# د رومیانو په نوم د پولوس رسول خط

## پېژندګلو

پولوس رسول دا خط د رومیانو جماعت ته ولیکلو چې یهودیان او غېر یهودیان ایمانداران په زیری کښې متحد کړی. د غېریهودیانو د زړونو دپاسه شریعت درج دے نو هغوئ سره خو بله بهانه نشته، او یهودیانو سره شریعت شته خو عمل پرې نهٔ کوی. د دې کِتاب اصلی مقصد دا دے چې ټول انسانان ګناهګاران دی او د ګناه نه ورته د خلاصون ضرورت دے، او کهٔ څهٔ هم چې شریعت ښهٔ او پاک دے خو صرف حضرت عیسیٰ ګناه اخوا کولے شی او په ګناه زورَور دے. د حضرت عیسیٰ په سولیٔ د مرګ فدیه صرف د خُدائ پاک د خلاصون د منصوبې مرکزی کردار ادا کولے شی، او صرف د هغهٔ قربانی مونږ د خُدائ پاک سره د صحیح تعلق لرلو جوګه جوړولے شی. په دې کِتاب کښې پولوس رسول په دې خبره رڼا اچوی چې د خُدائ پاک د فضل په وجه دې ایمانداران په اخلاقی لحاظ سره پاک وی، خپلو ګاونډیانو سره دې مینه کوی، د یو ښهٔ شهری په حیث دې ژوند کوی، او نورو ایماندارانو ته دې د جماعت په شراکت او عبادت کولو کښې پوره هرکلے وائی. د حفظ کولو دپاره ۱۰:۹ آیت "کهٔ ستا په خولهٔ دا اِقرار وی چې عیسیٰ مالِک دے او په زړهٔ کښې دې دا ایمان وی چې خُدائ پاک هغه د مړو نه راژوندے کړے دے نو تهٔ به خلاصون بیا مومې."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دُعا او سلام

١ (١) د پولوس د طرف نه، چې د عيسىٰ مسيح خادِم او بللے شوے رسول
دے ځوک چې د خُدائ پاک د زيرى د خورولو دپاره مقرر کړے شوے دے.
(٢) د دې زيرى وعده خُدائ پاک د مخکښې نه په مقدسو صحيفو کښې د خپلو
نبيانو په وسيله کړې ده. (٣) دا زيرے د هغۀ د زوئ په حقله دے، ځوک چې په
انسانى طور د داؤد په نسل کښې پېدا شو، (٤) خو د روحُ القُدس په قدرت سره
هغه د مړو نه بيا راژوندے شو، په دې وجه هغه د خُدائ پاک زوئ ويللے شو،
يعنې زمونږ مالِک عيسىٰ مسيح. (٥) د هغۀ په وسيله مونږ ته دا فضل او رسالت
بخښلے شوے دے چې د هغۀ د نوم دپاره ټولو غېرو قومونو ته بلنه ورکړُو چې د
ايمان په وسيله تابعدارى وکړو. (٦) او تاسو هم په هغه رابللے شوو خلقو کښې
شامل يئ چې د عيسىٰ مسيح سره تړون ولرئ. (٧) زۀ د روم هغه ټولو
اوسېدونکو ته سلام وايم چې د خُدائ پاک محبوبان دى او چې د ايماندار کېدو
دپاره رابللے شوى دى. زمونږ خُدائ پلار او مالِک عيسىٰ مسيح دې تاسو لا
فضل او سلامتى درکړى.

## د شُکر گزارى دُعا

(٨) د ټولو نه اول زۀ د عيسىٰ مسيح په نوم ستاسو دپاره د خپل خُدائ پاک شُکر
ادا کوم ځکه چې په ټوله دُنيا کښې ستاسو د ايمان خبرې کېږى. (٩) هغه خُدائ
پاک د چا چې زۀ د خپل زړۀ نه خِدمت کوم او د هغۀ د زوئ زيرے خوروم، هغه
خُدائ پاک زما گواه دے چې زۀ تاسو مسلسل په خپلو دُعاگانو کښې يادوم. (١٠)
او هميشه دا سوال کوم چې د خُدائ پاک په مرضى دې آخر هم زۀ د دې جوگه
شم چې تاسو ووينم. (١١) زۀ ستاسو د ليدو خواهشمند يم او دا غواړم چې تاسو
ته څۀ روحانى نعمت درکړم چې تاسو پرې قوى او مضبوط شئ، (١٢) هغه دا
چې په خپلو کښې به يو بل ته په ايمان کښې داډ ورکړو. (١٣) اے زما ورونړو او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوبندو، زهٔ غواړم چې تاسو په دې پوهه شئ چې ما ډېر ځله تاسو ته د راتلو کوشش کړے دے خو تر اوسه پورې د دې نه منع کړے شوے يم. او زهٔ په دې طمع ناست يم چې په تاسو کښې کار وکړم او تاسو د ايمان ملګرى جوړ کړم، لکه څنګه چې مې په نورو غېرو يهوديانو کښې جوړ کړى دى. ۱۴ زهٔ د مهذب او د غېر مهذب خلقو، د عالمانو او د عاميانو، د ټولو احسان مند يم. ۱۵ ځکه زهٔ دا غواړم چې تاسو ته چې په روم کښې يئ، زيرے درورسوم.

## د زيرى قدرت

۱۶ زهٔ د مسيح د زيرى نه نهٔ شرمېږم، ځکه چې د هر چا دپاره چې ايماندار وى دا د خلاصون دپاره د خُدائ پاک قدرت دے، اول د يهوديانو دپاره، بيا د غېريهوديانو دپاره. ۱۷ ځکه چې هم د دې نه د خُدائ پاک هغه صداقت ښکاره کېږى چې د ايمان نه شروع کېږى او په ايمان تر سره کېږى، لکه چې صحيفې وائى، ”څوک چې صادق وى هغه به په ايمان پائى.“

## د بنى آدمو ګناه

۱۸ خو د خُدائ پاک غضب د آسمان نه په هغه ټولو بېدينه او بدکارو خلقو نازلېږى، څوک چې حقيقت په خپل منافقت سره پټوى. ۱۹ او هغوئ د خُدائ پاک په حقله د حقيقت نه خبر دى، ځکه چې خُدائ پاک په خپله هغه هغوئ ته ښکاره کړے دے. ۲۰ د کله نه چې خُدائ پاک دا دُنيا پيدا کړې ده د هغهٔ پټ صِفتونه لکه د هغه دائمى او الاهى قوت په هغه ټولو څيزونو کښې ښکارى کوم چې هغهٔ پيدا کړى دى. نو ځکه د چا سره هم د خُدائ پاک د نهٔ پېژندلو په حقله هيڅ عُذر نشته. ۲۱ اګر کهٔ هغوئ خُدائ پاک پېژندلو، خو بيا هم د خُدائ پاک د احترام کولو نه يې اِنکار کولو او ناشُکره وُو، بلکې د هغوئ ټول خيالات باطل شول او د هغوئ بېاحساسه زړونه په تيارهٔ کښې وُو. ۲۲ هغوئ د هوښيارتيا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دعویٰ کوله خو هغوئ بېعقله وُو. ﴿٢٣﴾ او هغوئ د ابدی او لوئ خُدائ پاک په ځائ د فانی انسان، د مارغانو، د ځناورو او مارانو په شکل څیزونو عبادت وکړو. ﴿٢٤﴾ هم په دې وجه خُدائ پاک هغوئ د خپل نفس ناپاکه خواهشاتو ته پرېښودل، او آخر دا چې هغوئ په خپلو کښې ځانونه يو تر بله وشرمول، ﴿٢٥﴾ ځکه چې هغوئ د خُدائ پاک حقیقت په دروغو بدل کړو او د مخلوق عبادت او خِدمت يې د هغه خالِق په ځائ وکړو، څوک چې تل تر تله د حمد لائق دے، آمین. ﴿٢٦﴾ نو ځکه خُدائ پاک هغوئ بېشرمه شهوتونو ته پرېښودل. د هغوئ ښځو د فطری جنسی عمل په ځائ غېر فطری جنسی عمل خپل کړو. ﴿٢٧﴾ او د هغوئ سړو هم دغه شان د ښځو سره د فطری جنسی عمل په ځائ د يو بل سره بدکاری راواخسته او سړو د سړو سره شرمناک کارونه وکړل، او اَنجام يې دا چې په خپله يې د دې گمراهئ بدله او سزا ومونده ﴿٢٨﴾ او څنګه چې هغوئ د خُدائ پاک پېژندل خوښ نۀ کړل نو خُدائ پاک هم هغوئ خپلو باطلو خیالاتو ته پرېښودل چې په هم دې بدعملئ آخته وی. ﴿٢٩﴾ هغوئ د هر قِسم بېاِنصافئ، بدئ، لالچ او بدو خواهشاتو نه ډک شول. او هغوئ د حسد، قتل، جګړې، ټګئ او بُغض نه ډک دی. پټې شا خبرې کوونکی ﴿٣٠﴾ غیبت کوونکی، د خُدائ پاک نه نفرت کوونکی، بد سره، مغروره او لافې کوونکی دی. دوئ ورانے جوړوی او د مور پلار نافرمانه دی. ﴿٣١﴾ دوئ کم عقل، بېایمانه، بېرحمه، ظلم کوونکی دی. ﴿٣٢﴾ د خُدائ پاک په دې فرمان هغوئ ښۀ خبر دی چې هغه څوک چې داسې عمل کوی، هغوئ د مرګ لائق دی خو بیا هم هغوئ داسې کوی. هغوئ نۀ صرف دا کوی بلکې داسې کوونکو ته شاباسے هم ورکوی.

## د خُدائ پاک رښتینی عدالت

**٢** ﴿١﴾ اے دوستانو، تاسو چې بل څوک مجرموئ، تاسو هر څوک چې يئ، تاسو سره هیڅ عُذر نشته. کله چې تاسو بل څوک مجرموئ نو په دې سره تاسو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځان مجرموئ ځکه چې هم هغه کارونه تاسو په خپله کوئ. ﴿۲﴾ اوس مونږ ته پته ده څوک چې داسې کارونه کوی نو خُدائ پاک په اِنصاف سره د هغوئ عدالت کوی. ﴿۳﴾ نو کله چې تاسو نور په داسې کارونو مجرموئ، او بیا تاسو په خپله هم هغه کارونه کوئ نو ولې تاسو دا سوچ کوئ چې ګنې تاسو به د خُدائ پاک د عدالت نه بچ شئ څۀ؟ ﴿۴﴾ او یا دا چې تۀ د هغۀ د لوئې مهربانئ، د زغم، او د صبر پیمانه سپکه ګڼې څۀ؟ ولې تاسو په دې نۀ پوهېږئ چې د خُدائ پاک د مهربانئ وجه دا ده چې تاسو توبه وباسئ؟ ﴿۵﴾ بلکې تاسو د خپل سخت او ناتوبه ګاره زړونو په وسیله د خپل ځان دپاره د خُدائ پاک د قهر د ورځې غضب زیاتوئ کله چې به د خُدائ رښتونے عدالت شروع شی. ﴿۶﴾ هغه به هر چا ته د هغوئ د کارونو په مطابق اجر ورکړی. ﴿۷﴾ څوک چې په صبر سره ښۀ کوی او د جلال او د عزت او د نۀ ختمېدونکی ژوند لټون کوی، هغوئ ته به خُدائ پاک د تل ژوندون ورکړی. ﴿۸﴾ خو هغوئ څوک چې خود غرضه دی او د حق نه منکر دی او غلط کارونه کوی، په هغوئ به قهر او غضب نازل شی. ﴿۹﴾ د هغوئ ټولو دپاره به مصیبت او تکلیفونه وی څوک چې بدکاره وی، اول د یهودی او بیا د غېر یهودی دپاره. ﴿۱۰﴾ خو د ټولو نېکی کوونکو دپاره جلال او عزت او سلامتی ده، اول د یهودی او بیا د غېر یهودی دپاره. ﴿۱۱﴾ ځکه چې خُدائ پاک د چا طرفدارے هم نۀ کوی. ﴿۱۲﴾ هغوئ ټولو چا چې د موسیٰ د شریعت نه بغېر ګناه کړې وی، نو هغوئ به د شریعت نه بغېر هلاک شی، او هغوئ ټولو چا چې د شریعت د لاندې ګناه کړې وی، هغوئ به د شریعت د لاندې سزا مومی. ﴿۱۳﴾ ځکه چې نۀ صرف د شریعت په اورېدو بلکې په هغې د عمل کولو په وسیله سړے د خُدائ پاک په نظر کښې صادق کېږی. ﴿۱۴﴾ هغه غېریهودیان چې د شریعت نه ناخبره وی او په قدرتی توګه هغه څۀ کوی څۀ چې په شریعت کښې وی، کۀ څۀ هم چې د هغوئ سره شریعت نشته، خو د هغوئ عمل ورته شریعت دے. ﴿۱۵﴾ نو هغوئ دا ښکاره کوی څۀ چې په شریعت کښې دی هغه د هغوئ په زړُونو لیکلی دی. د هغوئ ضمیر د هغې ګواهی ورکوی او د هغوئ خیالونه به



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ ملامتوی او یا به د هغوئ دفاع کوی. ۱۶ دا هغه زیرے دے چې زۀ یې
تاسو ته اوروم، هغه ورځ راتلونکی ده چې خُدائ پاک به د عیسیٰ مسیح په وسیله
د خلقو د پټو خیالونو عدالت وکړی.

## يهوديان او شريعت

۱۷ خو کۀ تاسو ځان ته یهودیان وایئ او په شریعت ټینګ ولاړ یئ او خُدائ
پاک سره په خپل تعلق فخر کوئ، ۱۸ او تاسو ته د هغۀ رضا معلومه ده او د
ښو او بدو نه خبر یئ، دا ځکه چې تاسو ته په شریعت کښې دا تعلیم درکړے
شوے دے، ۱۹ او ستاسو په دې یقین دے چې تاسو د ړندو لارښودونکی یئ او
د هغوئ دپاره رڼا یئ خوک چې په تیارۀ کښې دی، ۲۰ او تاسو د کم عقلو معلِم
او د ماشومانو اُستاذان یئ، ځکه چې په شریعت کښې تاسو د عِلم او د حقیقت
مالِکان یئ، ۲۱ نو بیا تاسو چې نورو ته تعلیم ورکوئ، نو بیا ولې تاسو په خپله
تعلیم نۀ زده کوئ؟ تاسو خو دا تعلیم ورکوئ چې غلا مۀ کوئ، نو بیا ولې تاسو په
خپله غلا کوئ؟ ۲۲ تاسو وایئ چې زنا مۀ کوئ، نو بیا ولې تاسو په خپله زنا
کوئ؟ تاسو چې بُتان پلیت ګڼئ، نو بیا ولې تاسو بُتخانې لوټ کوئ؟ ۲۳ سره د
دې چې تاسو په شریعت فخر کوئ نو بیا ولې تاسو د شریعت په ماتولو د خُدائ
پاک سپکاوے کوئ؟ ۲۴ ځکه څنګه چې په صحیفو کښې لیکلے شوی دی چې،
”هم ستاسو په وجه به غېریهودیانو کښې د خُدائ پاک د نوم سپکاوے وشی.“
۲۵ سنت کېدل فائده مند دی خو چې تاسو په شریعت عمل کوئ، خو کۀ تاسو
چرې په شریعت عمل نۀ کوئ نو ستاسو سنت داسې دے لکه بېسنته. ۲۶ نو
کۀ یو ناسنته په شریعت عمل کوی نو ولې هغه ناسنته به سنت شوی ونۀ ګڼلے
شی څۀ؟ ۲۷ هغه به ناسنته وی خو په شریعت د عمل کولو په وجه به تاسو د
هغۀ په مقابله کښې مجرم کړے شئ ځکه چې تاسو سره لیکلے شوے شریعت
موجود دے او سنت شوی یئ خو د دې باوجود هم شریعت ماتوئ. ۲۸ یو
انسان په ظاهری نښو رښتونے یهودی کېدے نۀ شی او نۀ صحیح سنت کېدل په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جسم کښې ښکاره نښې ته وائی. (۲۹) خو صحيح يهودی هغه دے چې ځوک په
باطن کښې وی او رښتونے سنت د زړۀ سنت کېدل دی، دا روحانی خبره ده او
د ليکلے شوی شريعت سره يې څۀ تعلق نشته. او د داسې کس صِفت د مخلوق
نه نه، بلکې د خُدائ پاک د خوا نه کېږی.

## ۳

(۱) نو بيا يهودی په غېر يهودی باندې څۀ غوره والے لری؟ او يا د سنت
کېدلو فائده څۀ ده؟ (۲) په هر لحاظ سره ډېره فائدې لری. د ټولو نه اوله دا چې
د خُدائ پاک کلام يهوديانو ته حواله شو. (۳) دا رښتيا خبره چې په دوئ کښې
ځينې بې‌وفا وُو، خو ولې د دوئ بې‌وفائی به د خُدائ پاک وفاداری ختمه کړی؟
(۴) نه، هيڅکله نه. کۀ چرې هر بنی آدم دروغژن وی خو خُدائ پاک به همېشه
رښتونے وی، لکه چې په صحيفو کښې ليکلی دی چې، ”تۀ دې په خپلو خبرو
کښې رښتونے وګرځې او په خپل عدالت کښې دې کامياب شې.“ (۵) خو کۀ
چرې ځينې خلق داسې وائی چې زمونږ بدکاری د خُدائ پاک د اِنصاف د ښکاره
کولو سبب کېدے شی، نو بيا مونږ په دې کښې څۀ وئيلے شُو؟ ولې دا د خُدائ
پاک بې‌اِنصافی ده چې خُدائ پاک په مونږ غضب نازلوی؟ زۀ دا د يو انسان په
توګه وايم. (۶) نه، هيڅکله نه. کۀ چرې خُدائ پاک اِنصاف کوونکے نۀ وی، نو
بيا به هغه د دُنيا عدالت څنګه وکړی؟ (۷) خو کۀ چرې زما د دروغو په وجه د
خُدائ پاک حقيقت او د هغۀ لوئی ښکاره کېږی نو ولې بيا زۀ اوس هم د ګناه ګار
په توګه مجرم ګڼلے شم؟ (۸) لکه څنګه چې ځينې خلق په مونږ دا اِلزام لګوی
چې مونږ خلقو ته داسې وايو چې، راځئ چې مونږ بد وکړو چې نېکی ترې پېدا
شی، نو کوم خلق چې په مونږ داسې اِلزام لګوی هغوئ د سزا لائق دی.

### ځوک هم صادق نۀ دے

(۹) نو مونږ بيا څۀ وئيلے شُو؟ ولې مونږ د نورو نه ښۀ يو څۀ؟ نه، بلکل نه. ځکه
چې مونږ د مخکښې نه دا اِلزام لګولے دے چې يهوديان او غېريهوديان دواړه يو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان د ګناه په قبضه کښې دی. ﴿۱۰﴾ لکه چې صحيفې وائی چې، ”څوک هم صادق نۀ دے، بلکل يو کس هم نشته. ﴿۱۱﴾ داسې څوک هم نشته چې هوښيار وی، داسې هيڅوک نشته چې د خُدائ پاک لټون کوی. ﴿۱۲﴾ ټول اوړېدلی دی، او ټول بېکاره شوی دی. يو هم نيک کار نۀ کوی، يو کس هم نشته. ﴿۱۳﴾ د هغوئ مرئ د پرانستی قبرونو په شان دی، هغوئ د خپلو ژبو سره دوکې ورکوی، د هغوئ د شونډو لاندې د مارانو زهر پراتۀ دی. ﴿۱۴﴾ د هغوئ خولې د لعنتونو نه او د ترخو خبرو نه ډکې دی. ﴿۱۵﴾ د هغوئ پښې د وينې د تويولو دپاره په منډه دی. ﴿۱۶﴾ تباهی او بربادی د هغوئ په لارو کښې دی. ﴿۱۷﴾ هغوئ د سلامتی د لارې نه نا آشنا دی. ﴿۱۸﴾ هغوئ بلکل د خُدائ پاک نه يره نۀ کوی.“ ﴿۱۹﴾ اوس مونږ په دې پوهيږو چې شريعت د هغه خلقو دپاره دے چا ته چې هغه ورکړے شوے دے، د شريعت مقصد صرف دا دے چې څوک بهانه نۀ شی کولے. شريعت مونږ ته دا راپه ګوته کوی چې ټوله دُنيا به د خُدائ پاک په حضور کښې حساب کِتاب ورکوی. ﴿۲۰﴾ ځکه چې يو بنی آدم به هم په شريعت د عمل کولو په وجه د خُدائ پاک په وړاندې صادق نۀ وی ځکه چې د شريعت په وسيله ګناه پيژندلے کيږی.

## د ايمان په وسيله صداقت

﴿۲۱﴾ خو اوس د شريعت نه بغير د خُدائ پاک صداقت څرګند کړے شوے دے او شريعت او نبيان دواړه د دې تصديق کوی. ﴿۲۲﴾ لار دا ده چې عيسیٰ مسيح باندې ايمان راوړلو سره خُدائ پاک مونږ صادقان جوړوی، دا لار د ټولو دپاره ده، په هيچا کښې هم فرق نشته. ﴿۲۳﴾ ځکه چې ټولو ګناه کړې ده او د خُدائ پاک د لويئ نه محروم دی. ﴿۲۴﴾ خو هغوئ د خُدائ پاک په فضل سره مفت صادق شول د هغه خلاصون په وسيله چې په عيسیٰ مسيح کښې دے. ﴿۲۵﴾ ځکه چې خُدائ پاک مسيح د دې دپاره مقرر کړے وو چې د هغۀ د قربانی په کفاره او په هغۀ د ايمان په وسيله ګناهونه ووينځی. او هغۀ دا کار د دې دپاره وکړو چې خپل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صداقت ښکاره کړی. ځکه چې خُدائ پاک صابر دے او په تېرو شوو ګناهونو
يې څۀ غم غرض ونۀ کړو، ۲۶ د دې دپاره چې په دې زمانه کښې دا خبره ثابته
او ښکاره کړی چې هغه په خپله صادق دے او هر هغه سړے صادق حسابوی
چې په عيسىٰ مسيح يې ايمان وی. ۲۷ نو بيا مونږ په دې فخر وکړو چې د خُدائ
پاک په نزد ګنې مونږ ښۀ کار کړے دے؟ نه، مونږ په دې فخر نۀ شُو کولے ځکه
چې زمونږ صداقت د شريعت په بنياد نه بلکې د ايمان په وسيله دے. ۲۸ ځکه
مونږ دا وايو چې خُدائ پاک بنی آدم د ايمان په وسيله صادق کوی، نۀ چې د
شريعت په کارونو. ۲۹ ولې خُدائ پاک يواځې د يهوديانو خُدائ پاک دے؟ ولې
هغه د غېريهوديانو خُدائ پاک نۀ دے څۀ؟ بېشکه هغه د غېريهوديانو خُدائ پاک
هم دے. ۳۰ ځکه چې خُدائ پاک يو دے او هغه به سنت شوی د ايمان په
وسيله او ناسنته هم د ايمان په وسيله صادق کړی. ۳۱ نو بيا ولې مونږ د ايمان
په وسيله شريعت شا ته غورزوو؟ هيڅکله نه، بلکې مونږ خو شريعت نور هم
مضبوطوو.

## د حضرت اِبراهيم مِثال

۴ ۱ نو بيا مونږ د اِبراهيم په حقله چې په جسمانی طور زمونږ نيکۀ وو څۀ
وئيلے شُو چې د صادق کېدلو دپاره هغۀ کومه تجربه حاصله کړه؟ ۲ ځکه کۀ
چرې اِبراهيم په خپلو نېکو اعمالو کښې صادق وو نو بيا يې فخر په ځائ دے،
خو د خُدائ پاک په وړاندې نه. ۳ ځکه چې صحيفې وائی چې، ”اِبراهيم په
خُدائ پاک ايمان راوړو او هغه ايمان د هغۀ په صداقت حساب شو.“ ۴ نو
اوس کۀ يو سړے څۀ کار وکړی نو د هغۀ مزدوری ورته په اجر کښې نۀ
حسابيږی، دا خو د هغۀ حق دے. ۵ خو کۀ څوک بغېر د عمل نه په هغۀ ايمان
ولری څوک چې بېدينه صادقوی نو دغه ايمان هغۀ ته په صداقت حساب دے.
۶ هم دغه شان داؤد د هغه سړی د خوشحالۍ ذکر کوی څوک چې خُدائ پاک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې د عمل نه صادق کړے دے، ﴿۷﴾ ”بختور دی هغوئ د چا نافرمانی چې معاف شوه، او د چا په ګناهونو چې پرده واچولے شوه. ﴿۸﴾ بختور هغه کس دے د چا بد چې مالِک خُدائ حساب نهٔ کړی.“ ﴿۹﴾ ولې دا خوشحالی تش د سنت شوو دپاره ده، یا دا د ناسنتو دپاره هم ده؟ مونږ وایو چې، ”د اِبراهیم ایمان په صداقت حساب شو.“ ﴿۱۰﴾ نو هغهٔ ته دا څنګه حساب کړے شو؟ ولې هغه په هغه وخت کښې سنت وو کهٔ نه؟ نه، هغه ناسنته وو. ﴿۱۱﴾ هغهٔ ته د سنت نښه د صداقت د مهر په طور مِلاو شوه کومه چې هغهٔ د ایمان په وسیله حاصله کړه ځکه چې هغه لا ناسنته وو. د دې مطلب دا وو چې هغه د هغوئ ټولو هم نیکهٔ شی چا چې بغېر د سنت کېدو نه ایمان راوړو او هم په دې وجه هغوئ صادق وګڼلے شول. ﴿۱۲﴾ او هغه د سنت شوو خلقو هم نیکهٔ دے نهٔ یواځې دا چې سنت شوی دی، بلکې چې زمونږ د نیکهٔ اِبراهیم غوندې ایمان ولری، یعنې هغه ایمان چې اِبراهیم لا د سنت کېدلو نه مخکښې لرلو.

## د خُدائ پاک وعده د ایمان په وسیله حاصلېږی

﴿۱۳﴾ خُدائ پاک د اِبراهیم او د هغهٔ اولاد سره د دُنیا د وارث کېدو لوظ په شریعت د عمل کولو په وسیله ونهٔ کړو بلکې د صداقت په بنیاد یې وکړو چې په ایمان حاصلېږی. ﴿۱۴﴾ ځکه کهٔ هغوئ د شریعت په وسیله وارثان کیږی نو بیا ایمان بې‌ځایه دے او وعده بې‌فائدې ده. ﴿۱۵﴾ ځکه چې شریعت خو سزا اعلانوی، خو چرته چې شریعت نشته نو هلته د شریعت ماتول هم نشته. ﴿۱۶﴾ نو خُدائ پاک د خپل فضل په مطابق دا وعده ځکه وکړه چې اِبراهیم په هغهٔ ایمان راوړے وو، د دې دپاره چې د هغهٔ فائده د اِبراهیم ټول نسل ته د بخښنې په طور ورسی. نهٔ یواځې د هغوئ دپاره چې په شریعت قائم دی، بلکې د هغوئ دپاره هم چې د اِبراهیم په شان ایمان لری، ځکه چې هغه زمونږ د ټولو پلار دے. ﴿۱۷﴾ لکه چې صحیفې وائی چې، ”ما تهٔ د ډېرو قومونو پلار جوړ کړے یې.“ د هغه خُدائ پاک په حضور کښې په چا چې د هغهٔ ایمان وو، څوک چې مړی بیا راژوندی کوی او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نشت شتهٔ کوی. ﴿۱۸﴾ بیا هغهٔ په نااُمیدئ کښې اُمید وساتلو، او د هغهٔ دا ایمان وو چې هغه به د ډېرو قومونو پلار شی، د هغه کلام په مطابق چې هغهٔ ته وئیلے شوے وو چې، "ستا اولاد به بې‌شمېره وی." ﴿۱۹﴾ د ایمان د څهٔ کمزورئ نه بغېر هغهٔ د خپل وجود لکه د مړی په شان کمزورئ ته فکر ونهٔ کړو ځکه چې هغه خواوشا د سلو کالو بوډا وو او ساره هم شنډه وه. ﴿۲۰﴾ خو هغه د خُدائ پاک په لوظ شکمن نهٔ شو بلکې په خپل ایمان کښې نور هم مضبوط شو او خُدائ پاک ته یې جلال ورکړو. ﴿۲۱﴾ هغه په دې خبره پوره مطمئن وو چې خُدائ پاک خپل کړے لوظ پوره کولے شی. ﴿۲۲﴾ نو ځکه دا ایمان اِبراهیم ته په صداقت حساب شو. ﴿۲۳﴾ دا خبرې چې هغه صادق وګڼلے شو یواځې د اِبراهیم دپاره نهٔ وې لیکلے شوې، ﴿۲۴﴾ بلکې زمونږ دپاره هم وې ځکه چې هغه به مونږ هم صادق وګڼی کهٔ مونږ په هغهٔ ایمان وساتو چا چې زمونږ مالِک عیسیٰ له مړو نه بیا راژوندے کړو، ﴿۲۵﴾ هغه څوک چې زمونږ د نافرمانو په وجه مرګ ته حواله شو او زمونږ د صادق کولو دپاره بیا راژوندے شو.

## د صادق کولو نتیجه

**۵** ﴿۱﴾ په دې وجه کله نه چې مونږ د ایمان په وسیله صادق کړے شُو نو د مالِک عیسیٰ مسیح په وسیله د خُدائ پاک سره زمونږ صُلح ده، ﴿۲﴾ د چا په وسیله چې مونږ د خُدائ پاک په فضل کښې هغه ځائ وموندو چرته چې اوس مونږ یُو، او مونږ د خُدائ پاک د لویئ په اُمید کښې خوشحالی کوُو. ﴿۳﴾ نهٔ صرف دا بلکې مونږ په خپلو تکلیفونو هم خوشحالی کوُو، ځکه چې مونږ ته دا معلومه ده چې تکلیفونه د برداشت طاقت پیدا کوی، ﴿۴﴾ او برداشت نه اخلاق پیدا کیږی، او اخلاق نه اُمید پیدا کیږی، ﴿۵﴾ او دا اُمید مونږ شرمېدو ته نهٔ پرېږدی، ځکه چې د خُدائ پاک مینه زمونږ په زړونو کښې د هغه روحُ القُدس په وسیله اچولے شوې ده کوم چې مونږ ته راکړے شوے دے. ﴿۶﴾ ځکه کله چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موبږ لا بېوسه وُو، نو مسيح په صحيح وخت کښې د بېدينو دپاره خپل ځان
قربان کړو. ۞٧ د يو صادق انسان دپاره به په مشکله څوک خپل ځان قربان
کړى. خو کېدے شى چې د يو نېک او مهربانه کس دپاره څوک خپل ځان قربان
کړى. ۞٨ خو خُدائ پاک خپله مينه موبږ ته داسې ثابته کړه، چې کله موبږ لا په
گناه کښې اخته وُو نو مسيح زموبږ دپاره مړ شو. ۞٩ موبږ چې د مسيح د وينې
په وسيله صادقان شُو، نو دا نوره هم يقينى شوه چې موبږ به د هغۀ په وسيله د
خُدائ پاک د غضب نه هم بچ شُو. ۞١٠ ځکه چې کله موبږ د خُدائ پاک دشمنان
وُو نو موبږ د هغۀ د زوئ د مرگ په وسيله ورسره رضا شُو، او د دې نه زيات، د
هغۀ د زوئ د ژوند په وسيله به بچ شُو. ۞١١ خو موبږ د دې نه زيات د خپل مالِک
عيسىٰ مسيح په وسيله په خُدائ پاک فخر کوُو د چا په وسيله چې موبږ د خُدائ
پاک سره رضا شوى يُو.

## حضرت آدم او حضرت عيسىٰ مسيح

۞١٢ نو څنگه چې گناه د يو انسان په وسيله دُنيا ته راغله، او د گناه په وسيله
مرگ راغلو. او دغه شان مرگ په ټول انسانى نسل قبضه وکړه، ځکه چې ټولو
بنى آدمو گناه وکړه. ۞١٣ د شريعت نه وړاندې گناه دُنيا ته راغلې وه، خو چې
کله شريعت نۀ وى نو گناه هم گناه نۀ حسابيږى. ۞١٤ خو د آدم نه تر موسىٰ
پورې مرگ په دُنيا غالب وو په هغه چا هم چې د آدم په شان گناه يې نۀ وه کړې،
آدم د راتلونکى عيسىٰ دپاره يو نمونه وو. ۞١٥ خو د آدم د نافرمانۍ او د خُدائ
پاک په فضل کښې لوئ فرق دے. ځکه چې د دې يو انسان يعنې د آدم نافرمانۍ
په ټولو مرگ نازل کړو خو د خُدائ پاک فضل او بخښنه د دې نه لويه ده ځکه
چې د يو انسان يعنې عيسىٰ مسيح په وسيله يې هر چا ته ورکړه. ۞١٦ او بيا دا
چې د خُدائ پاک د فضل او د آدم د نافرمانۍ په نتيجه کښې غټ فرق دے ځکه
چې د آدم نافرمانۍ دُنيا مجرمه کړه، کۀ څۀ هم چې موبږ ډېر گناه گار وُو خو د
خُدائ پاک فضل موبږ د هغۀ سره پخلا کړو. ۞١٧ کۀ چرې د يو سړى په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نافرمانۍ د مرګ بادشاهی شوه، نو د خُدائ پاک فضل به د دې په مقابله کښې
ډېر زیات وی او د هغهٔ د صداقت بخښنه به ژوندون وی، د هغه یو سړی په
وسیله چې عیسیٰ مسیح دے. ۱۸ نو بیا دا چې د یو سړی د نافرمانۍ په وجه
ټول خلق مجرمان شول نو د یو سړی د صداقت په وجه ټول خلق راستباز کېدے
شی او ژوندون هم حاصلولے شی. ۱۹ ځکه چې د یو سړی په نافرمانۍ ډېر ګناه
ګار شول نو هم دغه شان د یو سړی په فرمانبردارۍ به ډېر صادقان هم شی. ۲۰
خو شریعت ځکه راغلو چې خلقو ته پته ولګی چې هغوئ څومره ګناهګار دی.
خو چرته چې نافرمانی زیاته شی نو هلته فضل د هغې نه نور هم زیات شی. ۲۱
ځکه څنګه چې ګناه د مرګ په وسیله خپله بادشاهی قائمه کړه، دغه شان د
خُدائ پاک فضل هم د صداقت په وسیله خپله بادشاهی کوی چې د مالِک عیسیٰ
مسیح په وسیله مونږ د تل ژوندون طرف ته بوځی.

## د حضرت عیسیٰ مسیح په ژوند کښې شاملېدل

٦ ۱ نو بیا مونږ په دې کښې څهٔ ووایو؟ ولې مونږ دې په ګناهونو کښې اخته
یُو د دې دپاره چې فضل نور هم زیات شی؟ ۲ نه، هیڅکله نه. مونږ خو ګناه ته
مړهٔ شوی یُو نو بیا څنګه په ګناه کښې ژوند تېرولے شُو؟ ۳ ولې تاسو ته پته
نشته چې کله مونږ ټولو په عیسیٰ مسیح کښې بپتسمه واخسته نو مونږ د هغهٔ په
مرګ کښې هم شامل شُو؟ ۴ نو ځکه مونږ د هغهٔ سره په بپتسمه کښې ښخ شُو
او ورسره مړهٔ شُو، نو چې څنګه مسیح د پلار په جلال کښې د مړو نه راپورته شو
نو مونږ هم په نوی ژوندون کښې ورسره شامل شُو. ۵ نو کهٔ مونږ د هغهٔ په
مرګ کښې د هغهٔ سره شامل یُو نو بیا به مونږ د هغهٔ سره په نوې ژوندون کښې
هم شامل یُو. ۶ مونږ په دې پوهه یُو چې زمونږ زوړ انسانیت د مسیح سره په
سولۍ کړے شو نو په مونږ کښې د ګناه اثر ختم شو او نور د ګناه په قبضه کښې
نهٔ یُو او د دې دپاره چې مونږ نور د ګناه غلامان نهٔ شُو. ۷ ځکه هر څوک چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مړ شی نو هغه د ګناه د اثر نه آزاد شی ﴿٨﴾ خو کهٔ مونږ د مسیح سره مړهٔ شُو نو زمونږ هم دا ایمان دے چې مونږ به د هغهٔ سره ژوندی شُو. ﴿٩﴾ مونږ ته دا معلومه ده چې مسیح د مړو نه بیا ژوندے شوے دے، او بیا به هیڅکله مړ نهٔ شی، او د مرګ په هغهٔ باندې نور هیڅ واک اختیار نشته. ﴿١٠﴾ کله چې هغه مړ شو نو هغه د ټولو د ګناه دپاره یو ځل مړ شو خو اوس چې هغه ژوندے دے خُدائ پاک ته د جلال ورکولو دپاره ژوندے دے. ﴿١١﴾ نو تاسو هم خپل ځانونه ګناه ته مړهٔ وګڼئ او په عیسیٰ مسیح کښې په شاملېدو سره یې خُدائ پاک ته ژوندی وګڼئ. ﴿١٢﴾ نو ځکه تاسو خپل ځان ګناه ته مهٔ پرېږدئ چې په تاسو حکومت وکړی او چې تاسو د نفس تابع کړی. ﴿١٣﴾ نور تاسو د خپل وجود اندامونه ګناه ته د بدکارئ د ساز و سامان په طور مهٔ وړاندې کوئ بلکې خپل ځانونه خُدائ پاک ته وړاندې کړئ د هغوئ په شان څوک چې د مرګ نه بیا راژوندی شوی دی، او خپل اندامونه خُدائ پاک ته د صداقت د ساز و سامان په طور وړاندې کړئ. ﴿١۴﴾ نو ګناه به نور په تاسو حکومت نهٔ کوی ځکه چې تاسو نور د شریعت د لاندې نهٔ یئ بلکې د خُدائ پاک د فضل د لاندې یئ.

## د صداقت غلامان

﴿١۵﴾ نو اوس سوال دا دے، چې مونږ د شریعت د لاندې نهٔ یُو او د فضل د لاندې یُو نو ولې بیا مونږ دې ګناه کوُو؟ نه، هیڅکله نه. ﴿١۶﴾ نو بیا تاسو په دې نهٔ پوهېږئ چې تاسو کوم مالِک ته ځان وقف کړئ او د هغهٔ فرمانبردار شئ نو بیا تاسو د هغهٔ غلامان شوئ؟ او تاسو به په دوئ کښې د یو غلامان یئ، یا د ګناه چې اَنجام یې مرګ دے، یا د خُدائ پاک فرمانبردارئ چې اَنجام یې صداقت دے. ﴿١٧﴾ نو د خُدائ پاک شُکر دے چې تاسو په یو وخت کښې د ګناه غلامان وئ خو اوس د زړهٔ د اخلاصه د هغهٔ د تعلیم فرمانبردار شوئ کوم چې تاسو ته په حواله شوے دے. ﴿١٨﴾ اوس تاسو د ګناه نه آزاد کړے شوئ او د صداقت غلامان شوئ. ﴿١٩﴾ زهٔ ستاسو د انسانی کمزورتیاو په سبب په ساده الفاظو کښې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وایم. لکه څنګه چې تاسو یو ځلې خپل ځانونه د ناپاکۍ او بې‌شرعې کارونو دپاره غلامان کړی وُو، نو دغه شان یې اوس د صداقت دپاره هم غلامان کړئ، چې مقدس شئ. (۲۰) کله چې تاسو د ګناه غلامان وئ نو تاسو بیا د صداقت د پابندۍ نه آزاد وئ. (۲۱) په کوم کردار چې اوس تاسو شرمیږئ او اَنجام یې مرګ دے، نو د هغې فائده څۀ وه؟ (۲۲) خو اوس تاسو د ګناه د غلامۍ نه آزاد یئ او د خُدائ پاک غلامان جوړ شوئ، د دې فائده دا ده چې تاسو خُدائ پاک ته وقف شوئ چې اَنجام یې د تل ژوندون دے. (۲۳) ځکه چې د ګناه بدل مرګ دے خو د خُدائ پاک بخښنه زمونږ په مالِک عیسیٰ مسیح کښې د تل ژوندون دے.

### د وادۀ مِثال

۷ (۱) زما ورونړو او خوېندو، تاسو نۀ پوهېږئ څۀ؟ زۀ هغوئ ته وایم څوک چې د شریعت نه واقف وی یو کس تر هغې د شریعت پابند دے ترڅو چې هغه ژوندے وی. (۲) د مِثال په طور په شریعت کښې یوه وادۀ شوې ښځه تر هغې د خپل خاوند پابنده ده ترڅو چې د هغې خاوند ژوندے وی، خو کۀ د هغې خاوند مړ شی نو بیا هغه د وادۀ د شرعی پابندو نه خلاصه شی. (۳) نو په دې وجه کۀ هغه د خپل خاوند په ژوندانۀ د بل سړی سره اوسیږی نو هغه به زناکاره ګڼلے شی، خو کۀ چرې د هغې خاوند مړ شی نو هغه د شریعت په مطابق آزاده ده، او کۀ هغه بیا د بل سړی سره وادۀ وکړی نو هغه زناکاره نۀ ده. (۴) نو زما ورونړو او خوېندو، هم په دې وجه په تاسو کښې د شریعت اثر ختم شو کله چې تاسو مسیح سره مړۀ شوئ. نو اوس تاسو د هغه چا سره شامل شوئ څوک چې د مړو نه بیا راژوندے شوے دے، نو ځکه چې مونږ د خُدائ پاک دپاره د نیک کردار مېوه ونیسو. (۵) کله چې مونږ د خپل انسانی فطرت په مطابق ژوند تېرولو نو شریعت مونږ نفسانی شهوت ته ترغیبولو او دې نفسانی خواهشاتو په مونږ کښې کار کولو چې نتیجه یې مرګ ده. (۶) خو اوس مونږ د شریعت نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آزاد یُو او د هغهٔ د اثر رسوخ دپاره مړهٔ شوی یُو او نور د هغې پابند نهٔ یُو. نو اوس زمونږ خِدمت د زوړ لیکلے شوے شریعت په مطابق نه بلکې په نوې روحانی طریقې سره ژوند تېروو.

## شریعت او ګناه

٧ نو مونږ به بیا څهٔ ووایو؟ ولې شریعت ګناه ده څهٔ؟ یقیناً چې نه. خو کهٔ شریعت نهٔ وے نو زهٔ به په ګناه پوهه شوے نهٔ وے، ولې چې ما به دا هیڅکله هم نهٔ وے پېژندلے چې لالچ څهٔ شے وی، کهٔ چرې شریعت دا نهٔ وے وئیلے چې، ”تاسو لالچ هم مهٔ کوئ.“ ٨ خو هم د دې حُکم په وسیله ګناه ته داسې موقع په لاس ورغله چې په ما کښې یې هر قِسمه لالچ پیدا کړو. ځکه چې د شریعت نه بغېر ګناه مړه ده. ٩ یو وخت داسې وو چې زهٔ د شریعت په غېر موجودګۍ کښې ژوندے وم، خو هر کله چې حُکم راغے نو ګناه ژوندۍ شوه او زهٔ مړ شوم. ١٠ او کوم حُکم چې زما د ژوند دپاره وعده وو، زما دپاره مرګ ثابت شو. ١١ خو هم د دې حُکم په وسیله ګناه ته داسې موقع په لاس ورغله او زهٔ یې دوکه کړم او د دې په وسیله یې مړ کړم. ١٢ نو شریعت پاک دے او حُکمونه یې هم پاک دی او صادق او ښهٔ دی. ١٣ ولې څهٔ چې ښهٔ دی نو هغه زما دپاره مرګ دے؟ نه، هیڅکله نه. دا خو ګناه وه چې زهٔ یې د ښهٔ څیز په وسیله ووژلم او هم په دې شان ګناه خپل اصلی شکل ښکاره کړو، او دغه شان د حکم په وسیله ګناه د نور کله نه زیاته بده شوه. ١۴ ځکه چې مونږ پوهیږو چې شریعت روحانی دے خو زهٔ غېر روحانی یم او په ګناه لکه د غلام خرڅ شوے یم. ١۵ زهٔ په خپلو کارونو نهٔ پوهیږم. ځکه چې زهٔ څهٔ کول غواړم، هغه نهٔ کوم، بلکې هغه کارونه کوم چې ترې نفرت کوم. ١۶ اوس کهٔ زهٔ هغه کوم څهٔ چې نهٔ غواړم، نو زهٔ منم چې شریعت ښهٔ دے. ١٧ خو په حقیقت کښې د هغې کوونکے زهٔ نهٔ یم بلکې هغه ګناه ده چې په ما کښې موجوده ده. ١٨ ځکه چې زهٔ په دې پوهیږم چې زما د ګناه په فطرت کښې هیڅ نیکی نشته، او اګر چې زهٔ د نیکۍ کولو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خواهش کوم خو کولے يې نۀ شم. ١٩ نو چې زۀ څۀ نېکی کول غواړم، هغه نۀ کوم، خو چې زۀ څۀ بد کول نۀ غواړم، هغه کوم. ٢٠ اوس زۀ چې څۀ کول نۀ غواړم هغه کوم، نو د دې کوونکے زۀ نۀ يم بلکې هغه ګناه ده چې په ما کښې موجوده ده. ٢١ نو بيا زۀ په دې اصُولو پوهه شوم چې کله زۀ نېکی کول غواړم نو بدی زما د لاسه وشی. ٢٢ زۀ په باطن کښې د خُدائ پاک په شريعت خوشحاله يم. ٢٣ خو يو بل شريعت په ما کښې دے چې زما د عقل سره په جنګ دے او د دې طاقت ما د هغه ګناه غلام جوړوی چې تر اوسه په ما کښې ده. ٢۴ نو زۀ څومره بدنصيبه سړے يم. چې دا بدن ما مرګ ته حواله کوی نو بيا څوک ما بچ کولے شی؟ ٢٥ خو د خُدائ پاک شُکر دے چا چې زۀ د مالِک عيسیٰ مسيح په وسيله بچ کړم. نو بيا زۀ خو په خپل عقل سره د خُدائ پاک د شريعت خِدمت کوم خو د ګناه په فطرت کښې زۀ د ګناه د شريعت غلام يم.

## روحانی ژوندون

٨ ١ نو په دې وجه اوس هغوئ مجرم کېدے نۀ شی څوک چې په عيسیٰ مسيح کښې ژوند کوی. ٢ ځکه چې د روح شريعت چې په عيسیٰ مسيح کښې مونږ ته ژوندون راکوی هغې مونږ د ګناه او د مرګ د شريعت نه آزاد کړی يُو. ٣ او هغه څۀ چې شريعت نۀ شُو پوره کولے ځکه چې زمونږ د ګناه فطرت کمزورے وو، نو خُدائ پاک داسې وکړل چې خپل زوئ يې په ګناه ګار انسانی وجود کښې راولېږلو او د ګناه کفاره يې کړو. او دغسې هغۀ ګناه په انسانی فطرت کښې مجرمه کړه، ۴ نو چې د شريعت صحيح تقاضا په مونږ کښې پوره شی چې بيا د روح په مطابق ژوند تېروو، نه چې د ګناه د فطرت په مطابق. ۵ څوک چې د ګناه د فطرت په اختيار کښې دی هغوئ د ګناه سوچ لری خو څوک چې د روح په اختيار کښې دی هغوئ روحانی سوچ لری. ۶ د ګناه د فطرت د سوچ لرلو اَنجام مرګ دے خو په روح پسې د تلو اَنجام ژوندون او سلامتی ده. ٧ ځکه چې د ګناه فطرت د خُدائ پاک مخالف دے او نۀ د خُدائ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک د شریعت تابعدار دے او نۀ کېدے شی. ﴿۸﴾ خوک چې د ګناه د فطرت په مطابق اوسیږی، هغوئ خُدائ پاک رضا کولے نۀ شی. ﴿۹﴾ خو تاسو د ګناه فطرت پسې نۀ یئ روان بلکې روح پسې روان یئ، ځکه چې د خُدائ پاک روح په تاسو کښې اوسی. او په چا کښې چې د مسیح روح نۀ وی نو هغه د مسیح نۀ دے. ﴿۱۰﴾ خو کۀ چرې مسیح په تاسو کښې اوسی نو کۀ څۀ هم ستاسو وجود د ګناه په وجه مړ شی، خو روح تاسو ته ژوند درکوی ځکه چې روح تاسو د خُدائ پاک سره رضا کړئ. ﴿۱۱﴾ کۀ چرې د خُدائ پاک روح په تاسو کښې وی چا چې عیسیٰ د مړو نه بیا ژوندے کړے دے، نو چا چې مسیح د مړو نه بیا ژوندے کړے دے هغه به ستاسو فانی وجودونو ته هم نوے ژوند ورکړی، د خپل هغه روح په وسیله چې په تاسو کښې اوسی. ﴿۱۲﴾ نو بیا اے زما ورونړو او خویندو، په مونږ اوس د ګناه د اختیار هیڅ حق پاتې نۀ شو چې مونږ دې ته مجبور کړی چې مونږ د ګناه په فطرت کښې ژوند تېر کړُو. ﴿۱۳﴾ ځکه کۀ چرې تاسو د ګناه د فطرت په مطابق ژوند تېر کړئ نو تاسو به مړۀ شئ، خو کۀ چرې د روح په وسیله تاسو د وجود خواهشات مړۀ کړئ نو تاسو به ژوندی پاتې شئ. ﴿۱۴﴾ ځکه چې هر خوک چې د خُدائ پاک د روح په هدایت چلیږی، هغوئ د خُدائ پاک بچی دی. ﴿۱۵﴾ ځکه چې تاسو هغه روح نۀ دے حاصل کړے چې تاسو بیا د یرې غلامان کړی، بلکې تاسو د بچو جوړېدو هغه روح حاصل کړو چې د دې په وسیله مونږ "ابا" یعنې "پلار" وایو. ﴿۱۶﴾ دا هغه روح دے چې په خپله زمونږ روح سره دا ګواهی ورکوی چې مونږ د خُدائ پاک بچی یُو، ﴿۱۷﴾ او چې بچی یُو نو وارثان هم یُو. مونږ د خُدائ پاک وارثان او د مسیح په میراث کښې شریک هم یُو، خو کۀ چرې مونږ د هغۀ سره په جلال کښې شریک یُو نو د هغۀ په تکلیف کښې به هم شریک یُو.

## زمونږ راتلونکے جلال

﴿۱۸﴾ زما په دې باور دے چې دا کوم تکلیفونه چې مونږ یې اوس زغمو د هغه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جلال په مقابله کښې هيڅ نهٔ دی کوم چې مونږ ته ملاوېدونکے دے. ۱۹ ځکه
چې ټول کائنات د خُدائ پاک د بچو د ښکاره کېدو دپاره په ډېر شوق سره په
طمع دے. ۲۰ ځکه چې مخلوقات د فنا تابع کړے شول، په خپله رضا نه بلکې
د هغه خُدائ پاک په رضا چا چې هغوئ ته دا اُمید ورکړو ۲۱ چې مخلوقات به
په خپله يوه ورځ د فنا کېدو نه آزاد شی او د خُدائ پاک د بچو د جلال په آزادۍ
کښې به شامل شی. ۲۲ مونږ په دې پوهه شو چې ټول کائنات تر اوسه پورې د
ماشوم د زيږېدو د درد په شان زبيرګی کوی. ۲۳ صرف کائنات نه بلکې مونږ
هم په زبيرګو کښې يُو چې راته د روح اوله مېوه مِلاو شوې ده، او مونږ په دې
اِنتظار کښې يُو چې خُدائ پاک مو په خپل زوئ والی کښې قبول کړی او زمونږ
ټول وجود ته خلاصون ورکړی. ۲۴ نو چې مونږ خلاصون وموندو نو هغه اُمید
راته مِلاو شو، خو اوس هغه اُمید چې مونږ ته مِلاو شو نو بيا انتظار د څهٔ دپاره
کوُو؟ ۲۵ خو کهٔ چرې مونږ د هغه څيز اُمید کوُو څهٔ چې مونږ نهٔ وينو نو مونږ
به په صبر سره د دې انتظار وکړُو. ۲۶ روحُ القُدس هم په دې شان زمونږ په
کمزورتياو کښې زمونږ مدد کوی. مونږ په دې هم نهٔ پوهېږو چې دُعا څنګه کول
په کار دی خو روحُ القُدس په اسويلو کښې زمونږ داسې شفاعت کوی چې په
لفظونو کښې نهٔ شی بيانېدلے. ۲۷ او خُدائ پاک څوک چې د زړُونو په رازونو
پوهه دے، هغهٔ ته دا معلومه ده چې د روحُ القُدس سوچ څهٔ دے ځکه چې روحُ
القُدس د مقدسينو دپاره د خُدائ پاک د مرضۍ په مطابق شفاعت کوی. ۲۸
مونږ ته پته ده څوک چې د خُدائ پاک سره مينه کوی د هغه خلقو د ښېګړې
دپاره هر څهٔ په شريکه کار کوی يعنې کوم خلق چې د هغهٔ د ارادې په مطابق
رابللے شوی دی. ۲۹ ځکه چې خُدائ پاک هغوئ د مخکښې نه پېژندل او هغوئ
يې د مخکښې نه مقرر کړی وُو، چې دوئ دې د هغهٔ د زوئ په شان شی، ترڅو
چې د هغهٔ زوئ په دې ټولو ورونو کښې اول زوئ وګرځی. ۳۰ او هم دا د
مخکښې نه مقرر کړے شوی هم وُو او هغه څوک چې خُدائ رابللی دی، هغه يې
صادقان کړی هم دی، او څوک چې هغهٔ صادقان کړی دی، هغوئ ته يې خپل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جلال هم ورکړے دے.

## د خُدائ پاک مينه په حضرت عيسىٰ مسيح کښې

۳۱ نو بيا مونږ د دې خبرو په حق کښې څۀ وئيلے شُو؟ کۀ خُدائ پاک زمونږ په
طرف دے نو بيا زمونږ مخالف څوک کېدے شى؟ ۳۲ هغۀ خو خپل زوئ هم
پرې نۀ ښودو او زمونږ دپاره يې د قربانۍ دپاره پېش کړو، نو بيا د دې سره به
مونږ ته نور څيزونه رانۀ کړى څۀ؟ ۳۳ د خُدائ پاک په غوره کسانو څوک اِلزام
لګولے شى؟ ځکه چې په خپله خُدائ پاک مونږ صادق کړى يُو، ۳۴ نو بيا
څوک مونږ مجرمان کولے شى؟ هيڅوک نه، ځکه چې عيسىٰ مسيح زمونږ دپاره
مړ شو او زمونږ دپاره د مړو نه بيا راژوندے شو او هغه د خُدائ پاک ښى لاس
ته ناست دے او بې‌شکه چې زمونږ شفاعت کوى. ۳۵ نو بيا به څوک د مسيح د
مينې نه مونږ جدا کړى؟ سختې يا مصيبتونه، ظلم، زياتے، لوږه، بربنډتوب،
خطره يا مرګ داسې کولے شى څۀ؟ ۳۶ لکه چې په صحيفو کښې ليکلى دى
چې، ”مونږ ستا دپاره ټوله ورځ د مرګ سره مخ کيږُو، د خلقو په نظر کښې مونږ
د حلالونکو ګډو په شان ګڼلے کيږُو.“ ۳۷ خو نه، د دې هر څۀ باوجود ټوله
کاميابى د عيسىٰ مسيح په وسيله زمونږ ده څوک چې مونږ سره مينه کوى. ۳۸
زۀ په دې پوره يقين ساتم چې نۀ مرګ او نۀ ژوندون، نۀ فرښتې، نۀ نور آسمانى
حاکمان، نۀ اوسنى او نۀ راتلونکى څيزونه، نۀ قوتونه، ۳۹ په آسمان کښې او نۀ
په زمکه او نۀ په ټول کائنات کښې داسې څۀ څيز شته چې مونږ د خُدائ پاک د
مينې نه جدا کولے شى، کومه چې په مالِک عيسىٰ مسيح کښې مونږ ته مِلاو
شوې ده.

## د خُدائ پاک غوره شوى خلق

۹ ۱ زۀ په مسيح کښې رښتيا وايم، دروغ نۀ وايم، او زما خپل ضمير د روحُ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

القُدس په وسیله د دې تصدیق کوی، ﴿٢﴾ زما په زړهٔ کښې ډېر لوئ غم او نهٔ ختمېدونکے درد دے. ﴿٣﴾ ځکه چې زما دا خواهش دے چې زهٔ دې د خپلو خلقو او د انسانی فطرت په مطابق چې زما رشته‌دار دی د هغوئ د خاطره لعنتی شم او د دوئ دپاره دې زهٔ د مسیح نه جدا شم. ﴿٤﴾ هغوئ بنی اِسرائیلیان دی او هغوئ د خُدائ پاک بچی بللے شوی دی او ورته جلال، وعدې، شریعت، عبادت او لوظونه ورکړے شوی دی. ﴿٥﴾ اِبراهیم، اِسحاق او یعقوب د هغوئ پلار نیکهٔ دی او په انسانی لحاظ سره د هغوئ نه مسیح هم پېدا دے. خُدائ پاک چې د ټولو بادشاه دے د هغهٔ نوم دې د تل دپاره مبارک وی، آمین. ﴿٦﴾ ښه نو بیا خُدائ پاک د بنی اِسرائیلو سره په خپله وعده پوره کولو کښې ناکامه شو؟ نه، خبره داسې نهٔ ده ځکه چې ټول بنی اِسرائیل په حقیقت کښې د خُدائ غوره شوی خلق نهٔ دی. ﴿٧﴾ او نهٔ د اِبراهیم ټول اولاد د خُدائ پاک رښتینی بچی دی، خو صحیفې وائی چې، "هم د اِسحاق نه به ستا نسل قائم وی." ﴿٨﴾ مطلب دا چې د اِبراهیم په نسل کښې ټول د خُدائ پاک حقیقی بچی نهٔ دی، خو صرف د خُدائ د وعدې په مطابق پېدا شوی د اِبراهیم اولاد بللے شی. ﴿٩﴾ ځکه چې وعده داسې شوې وه چې، "تقریباً یو کال وروستو به زهٔ تا ته واپس راشم او په دې وخت کښې به د ساره زوئ شوے وی." ﴿١٠﴾ او دا زوئ زمونږ نیکهٔ اِسحاق دے. کله چې هغهٔ د رِبقې سره وادهٔ وکړو نو د هغې دوه غبرګونی زامن وشُو. ﴿١١﴾ نو رِبقې ته د هغوئ د زېږېدو نه مخکښې ووئیلے شول چې په هغه وخت کښې چې هغوئ لا هیڅ ښهٔ یا بد نهٔ وُو کړی، خو بیا هم د دې دپاره چې د خُدائ پاک هغه مقرر شوے مقصد تر سره شی کوم چې د عمل په وسیله نه بلکې د خُدائ پاک په بلنه، ﴿١٢﴾ نو خُدائ پاک هغې ته وئیلی وُو چې، "مشر به د کشر خِدمت کوی." ﴿١٣﴾ څنګه چې دا په صحیفو کښې لیکلی دی چې، "ما یعقوب سره مینه وکړه او عِیسو ما رد کړو." ﴿١٤﴾ نو په دې کښې مونږ څهٔ ووایو؟ ولې خُدائ پاک بې‌اِنصافه دے څهٔ؟ هیڅکله نه. ﴿١٥﴾ ځکه چې هغهٔ موسیٰ ته وفرمائیل چې، "زهٔ مالِک خُدائ یم او څوک چې زهٔ غوره کړم زهٔ هغوئ ته خپل رحم او ترس ښایم." ﴿١٦﴾ نو دا د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

انسان په خواهش یا محنت باندې نۀ ده بلکې د خُدائ په رحم باندې ده. ﴿١٧﴾ ځکه چې خُدائ پاک په خپل کلام کښې فِرعون ته فرمائی چې، "خو ما تۀ د دې دپاره بادشاه کړې چې خپل طاقت ستا په ذریعه ښکاره کړم او چې زما نوم په ټوله دُنیا کښې خور شی." ﴿١٨﴾ نو دا د خُدائ پاک رضا ده چې په چا رحم کوی، او د چا زړونه سختوی.

## د خُدائ پاک غضب او رحم

﴿١٩﴾ نو تۀ به ما ته وائې چې، "بیا خُدائ پاک ولې مونږ ملامتوی ځکه چې څوک د هغۀ د مرضۍ مخالفت کولے شی؟" ﴿٢٠﴾ نه، داسې مۀ وایه، تۀ څوک یې چې خُدائ پاک سره بحث وکړې؟ ولې یو لوښے کُلال ته دا وئیلے شی چې تا زۀ په دې رنګ ولې جوړ کړے یم؟ ﴿٢١﴾ ولې د کُلال دا حق نۀ وی چې هم د دغې ډیرې د خټې نه دوه لوښی جوړ کړی، یو د خاص استعمال دپاره او بل د عام استعمال دپاره؟ ﴿٢٢﴾ خو کۀ د خُدائ پاک مرضی وه چې خپل غضب وښائی او خپل طاقت ښکاره کړی نو ځکه یې د غضب هغه لوښو سره ډېر صبر وکړو چې د تباه کېدو دپاره تیار شوی وُو، ﴿٢٣﴾ او څۀ چې هغۀ وکړل نو د دې دپاره یې وکړل چې خپل لوئ جلال په هغه خلقو ښکاره کړی په چا چې هغه رحم کوی او کوم چې هغۀ د اول نه د خپلې لویئ دپاره تیار کړے وو. ﴿٢٤﴾ مونږ هم په هغه خلقو کښې حساب یُو کوم چې د یهودیانو او غېریهودیانو نه رابللے شوی دی. ﴿٢٥﴾ لکه څنګه چې هغۀ د هوسیع په کِتاب کښې فرمائیلی دی چې، "هغوئ څوک چې زما اُمت نۀ وو، هغوئ ته به زۀ خپل اُمت ووایم، او هغه چې زما محبوبه نۀ وه، هغې ته به خپله محبوبه ووایم. ﴿٢٦﴾ او چې په کوم ځائ کښې هغوئ ته دا وئیلے شوی وُو چې تاسو زما خلق نۀ یئ، هغوئ ته به هم هلته د ژوندی خُدائ پاک بچی ووئیلے شی." ﴿٢٧﴾ او یشعیاه د بنی اِسرائیلو په حق کښې په چغو وائی چې، "سره د دې چې بنی اِسرائیل به د سمندر د شګو په شان بې‌شمېره وی، خو صرف لږ به په کښې خلاصون ومومی، ﴿٢٨﴾ ځکه چې د مالِک خُدائ به په زمکه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عدالت لنډ او آخری وی." ﴿۲۹﴾ او څنګه چې یشعیاه پېشګوئې کړې وه چې، "که مالِک خُدائ ربُ الافواج یو څو کسان ژوندی نۀ وے پرېښے، نو یروشلم به د سدوم او عموره په شان تباه شوے وو."

## د بنی اِسرائیلو بې‌ایمانی

﴿۳۰﴾ نو بیا مونږ څۀ ووایو؟ غېریهودیانو چا چې د صداقت دپاره محنت ونۀ کړو نو هغوئ دا حاصل کړو او هغوئ دا صداقت د ایمان په وسیله حاصل کړو. ﴿۳۱﴾ خو بنی اِسرائیلو چې د شریعت په بنیاد د صداقت حاصلولو کوشش وکړو نو هغوئ په هغه شریعت پوره کولو کښې کامیاب نۀ شول. ﴿۳۲﴾ داسې ولې وشول؟ ځکه چې د هغوئ کوشش د ایمان په بنیاد نۀ وو بلکې د عمل په بنیاد وو. هغوئ په کاڼی تیندک وخوړو. ﴿۳۳﴾ لکه څنګه چې صحیفو کښې لیکلی دی چې، "ګورئ، زۀ په صیون کښې داسې یو کاڼے ږدم، چې د تیندک باعث به جوړېږی، او خلق به پرې تیندک خوری. او څوک چې په هغۀ ایمان راوړی هغه به شرمنده نۀ شی."

## د بنی اِسرائیلو دپاره د پولوس رسول دُعا

۱۰ ﴿۱﴾ ورونړو او خوېندو، زما د زړۀ خواهش او د خُدائ پاک نه دُعا دا ده چې هغوئ دې خلاصون ومومی. ﴿۲﴾ زما په دې باور دے چې هغوئ د خُدائ پاک په حقله ډېر غېرتی دی خو د دوئ غېرت د عِلم په بنیاد نۀ دے. ﴿۳﴾ ځکه چې هغوئ د هغه صداقت نه ځان ناخبره کړے دے چې د خُدائ د طرفه دے، او هغوئ د خپل صداقت قائمولو کوشش کوی، او هغوئ د خُدائ پاک د صداقت تابعداری نۀ کوی. ﴿۴﴾ ځکه چې عیسیٰ مسیح د شریعت اختتام دے، نو بیا چې څوک په هغۀ ایمان راوړی هغوئ ټول صادقان شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د هر چا دپاره خلاصون

۵ موسیٰ د هغه صداقت په حقله لیکلی دی کوم چې د شریعت نه راغلے دے
چې، ”ځوک چې په شریعت عمل کوی هغه به د دې په سبب پائی.“ ۶ خو کوم
صداقت چې په ایمان راځی هغه وائی چې، ”په خپل زړهٔ کښې داسې مهٔ وایه چې
ځوک پاس آسمان ته ختلے شی؟ د دې دپاره چې مسیح لاندې راولی. ۷ یا
ځوک لاندې عالمِ ارواح ته تلے شی؟ چې مسیح د مړو نه راپاڅوی.“ ۸ خو دا
څهٔ وائی؟ ”کلام تاسو سره نزدې دے، دا ستاسو په شونډو او ستاسو په زړهٔ
کښې دے.“ نو هم دا د ایمان کلام دے چې مونږ یې بیانوو. ۹ ځکه کهٔ ستا په
خولهٔ دا اِقرار وی چې عیسیٰ مالِک دے او په زړهٔ کښې دې دا ایمان وی چې
خُدائ پاک هغه د مړو نه راژوندے کړے دے نو تهٔ به خلاصون بیا مومې. ۱۰
کله چې مونږ د زړهٔ نه ایمان راوړو نو خُدائ پاک مو صادقوی، او کله چې په
خپله خولهٔ دا اِقرار کوُو نو هغه خلاصون راکوی. ۱۱ نو ځکه صحیفې فرمائی
چې، ”هر ځوک چې په هغهٔ ایمان لری، نو هغه به شرمنده نهٔ شی.“ ۱۲ نو ځکه
په یهودی او په غیر یهودی کښې هیڅ فرق نشته چې هم دغه یو خُدائ پاک د ټولو
مالِک دے او د هغوئ ټولو دپاره چې هغهٔ ته زاری کوی، غنی دے. ۱۳ ځکه
چې، ”هر ځوک چې د مالِک خُدائ په نوم مدد وغواړی هغه به بچ شی.“ ۱۴ خو
هغوئ به څنګه د هغه چا نه وغواړی په چا چې یې ایمان نهٔ وی؟ او هغوئ به
څنګه په هغه چا ایمان راوړی د چا په حقله چې هغوئ څهٔ اورېدلی نهٔ وی؟ او
هغوئ به یې څنګه واوری ترڅو چې چا ورته پېغام نهٔ وی ورکړے؟ ۱۵ او هغوئ
به څنګه د هغهٔ پېغام ورکړی ترڅو چې هغوئ ونهٔ لېږلے شی؟ لکه چې په صحیفو
کښې لیکلے شوی دی، ”د هغوئ قدمونه څومره ښکلی دی ځوک چې زیرے
راوړی.“ ۱۶ خو ټولو د زیری فرمانبرداری ونهٔ کړه ځکه چې یشعیاه وائی چې،
”اے مالِکه، زمونږ په پېغام باندې چا یقین کړے دے؟“ ۱۷ نو ایمان د زیری په
اورېدلو پیدا کیږی او زیرے د مسیح د کلام په وسیله اورېدل کیږی. ۱۸ خو زهٔ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تپوس کوم چې ولې هغوئ دا نۀ دے اورېدلے؟ بېشکه چې اورېدلے يې دے، ځکه چې، ”د هغوئ آواز په ټوله دُنيا کښې اورېدلے شوے دے، او د هغوئ کلام د دُنيا آخرى حدونو پورې رسېدلے دے.“ ﴿۱۹﴾ خو زۀ بيا تپوس کوم چې ولې بنى اِسرائيل په دې پوهه نۀ شول؟ اول موسىٰ فرمائى چې، ”زۀ به تاسو داسې خلقو سره په حسد کړم چې قوم نۀ دے، او تاسو به د يو کم عقل قوم په ذريعه په قهر کړم.“ ﴿۲۰﴾ بيا يشعياه په نوره زړۀ ورتيا سره داسې فرمائى چې، ”زۀ هغه چا ومونندلم چا چې زما لټون نۀ کولو، او ما خپل ځان هغه چا ته ښکاره کړو چا چې زما تپوس هم نۀ دے کړے.“ ﴿۲۱﴾ خو د بنى اِسرائيلو په حقله هغه فرمائى چې، ”ټوله ورځ مې هغه خلقو ته لاسونه کولاو نيولى وُو چې نافرمانه او باغيان وُو.“

## په بنى اِسرائيل د خُدائ پاک رحم

**۱۱** ﴿۱﴾ نو بيا زۀ تپوس کوم چې ولې خُدائ پاک خپل اُمت رد کړے دے څۀ؟ بلکل نه. زۀ په خپله هم بنى اِسرائيلى يم، د اِبراهيم د نسل نه يم او د بنيامين د خيل غړے يم. ﴿۲﴾ خُدائ پاک خپل هغه اُمت نۀ دے رد کړے چې پخوا يې غوره کړے وو. تاسو خبر نۀ يئ چې صحيفې د الياس په حقله څۀ وائى؟ چې هغۀ څنګه خُدائ پاک ته د بنى اِسرائيلو خلاف شکايت وکړو، ﴿۳﴾ ”مالِکه، هغوئ ستا نبيان مړۀ کړى دى، هغوئ ستا قربانګاه نړولې دى، او زۀ يواځې پاتې يم او هغوئ زما ژوند هم ختموى.“ ﴿۴﴾ خو خُدائ پاک هغۀ ته څۀ جواب ورکړو؟ ”ما د خپل ځان دپاره اووۀ زره سړى ساتلى دى چا چې بعل ته سجده نۀ ده کړې.“ ﴿۵﴾ هم دغه شان په دې موجوده وخت کښې هم يوه ډله پاتې ده چې د خُدائ پاک په فضل غوره کړې شوې ده. ﴿۶﴾ خو کۀ چرې دا په فضل وى نو بيا دا نور د ښۀ عمل په بنياد نۀ دے، او کۀ نۀ وى، نو فضل بيا نور بېمطلبه شو. ﴿۷﴾ نو چې خبره داسې ده، نو ډېر بنى اِسرائيل په خپل لټون کښې کامياب نۀ شول. او په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ کښې يو څو غوره شوی کسان کامياب شول. خو د نورو زړونه سخت
کړے شوی وُو، ⑧ لکه څنګه چې ليکلے شوی دی چې، ”خُدائ پاک هغوئ ته
سست روح ورکړو. هغۀ دوئ ته تر نن ورځې پورې داسې سترګې چې ليدلے نۀ
شی او غوږونه چې اوريدلے نۀ شی، ورکړل.“ ⑨ او داؤد هم فرمائی چې،
”پرېږدئ چې د هغوئ دسترخوان جال او دام شی او د هغوئ دپاره د تيندک
کاڼے او سزا شی. ⑩ سترګې يې ړندې کړه چې هغوئ ونۀ وينی، او د هغوئ
ملاګانې دې د تل دپاره ټيټې شی.“ ⑪ نو زۀ تپوس کوم، چې ولې هغوئ تيندک
وخوړلو نو هغوئ د تل دپاره پرېوتل څۀ؟ نه، بلکل نه، بلکې د هغوئ د نافرمانو په
وجه غېريهوديانو خلاصون وموندلو، او په دې سبب بنی اِسرائيل هغوئ سره په
حسد شول. ⑫ اوس کۀ د بنی اِسرائيلو نافرمانی د دُنيا دپاره برکت وګرځېدلو،
او کۀ د دوئ شکست د غېريهوديانو دپاره برکت وګرځېدو، نو بيا به د دې برکت
نور څومره زيات شی چې کله ټول بنی اِسرائيل په کښې شامل شی.

## د غېريهوديانو دپاره خلاصون

⑬ زۀ اوس تاسو غېريهوديانو ته وايم چې زۀ د غېريهوديانو دپاره هم رسول يم
او زۀ خپل خِدمت ته زور ورکوم، ⑭ چې په دې طريقه زۀ په خپل قوم کښې
سيالی پېدا کول غواړم او په هغوئ کښې ځينې بچ کړم. ⑮ ځکه کۀ د هغوئ رد
کېدل د دُنيا پخلا کېدل شول نو د هغوئ بيا قبلېدل به مړو ته د ژوندون نه څۀ کم
نۀ وی. ⑯ کۀ چرې دا د اوړو اولنۍ پيړه پاکه وه نو بيا نور ټول اوړۀ به هم پاک
وی او کۀ د ونې جرړې پاکې وی نو بيا ښاخونه به هم پاکې وی. ⑰ کۀ د زيتون
ځينې ښاخونه پرېکړے شی، او د هغې په ځائ په کښې د ځنګلی زيتون يوه ښاخه
پيوند شی، نو بيا تاسو غېريهوديان هم د دغه ځنګلی ښاخونو په شان يئ. لکه څنګه
چې هغه د بلې ونې د جرړو نه طاقت حاصلوی نو هم دغه شان تاسو هم د
يهوديانو د روحانی جرړو نه طاقت حاصلوئ. ⑱ نو ځان د هغه ښاخونو نه
اوچت مۀ ګڼه. کۀ تۀ ځان اوچت ګڼې نو ياد ساته چې دا تۀ نۀ يې چې جرړو له



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وده ورکوي بلکې دا جرړه ده چې تهٔ پرې پایې. ١٩ تهٔ به وائې چې، ”څانګې د
دې دپاره پرېکړے شوې چې زهٔ په کښې پیوند کړے شم.“ ٢٠ دا رښتیا ده،
هغوئ د خپلې بې‌ایمانۍ په وجه پرېکړے شوې خو تا د ایمان په وسیله خپل ځائ
نیولے دے. نو کبر مهٔ کوه بلکې یرېږه. ٢١ ځکه کهٔ چرې خُدائ پاک اصلي
څانګې پرې نهٔ ښودلې نو هغه به تا هم پرې نهٔ ږدی. ٢٢ د خُدائ پاک د رحم او
غضب خیال کوه. هغه په نافرمانو باندې خپل غضب نازلوی، خو څوک چې د
هغهٔ په رحم یقین ساتی هغه ورته خپل رحم ښائی. خو کهٔ تاسو په هغهٔ یقین نهٔ
کوئ نو تاسو به هم پرېکړے شئ. ٢٣ او کهٔ د بنی اِسرائیل څوک په بې‌ایمانۍ
کښې پاتې نهٔ شی نو هغوئ به بیا پیوند کړے شی، ځکه چې خُدائ پاک دا قدرت
لری چې هغوئ بیا پیوند کړی. ٢٤ ځکه کهٔ چرې تهٔ د خپل ځنګلی زیتون د ونې
نه راپرېکړے شوے یې او د خپل فطرت په خلاف د اصلي زیتون سره پیوند
شوے یې نو بیا به هغه څانګې څومره په آسانه پیوند شی کومې چې د اصلي
زیتون خپلې څانګې دی.

## د ټولو دپاره د خُدائ پاک رحم

٢٥ زما وروڼو او خوېندو، دا ځکه چې دلته یو پټ حقیقت دے او زهٔ غواړم چې
تاسو پرې پوهه شئ، د دې دپاره چې تاسو ځان بې‌ځایه عقلمند ونهٔ ګنړئ، او هغه
دا دے چې د بنی اِسرائیل یوه برخه به تر هغې سخته وی ترڅو چې غېریهودیانو
پوره پوره په دې کښې داخل نهٔ شی. ٢٦ او بیا ټول بنی اِسرائیل به خلاصون
ومومی لکه څنګه چې صحیفو کښې لیکلے شوی دی چې، ”خلاصونکے به د
صیون نه راپورته شی، هغه به د یعقوب د نسل نه بې‌دینی لرې کړی. ٢٧ او دا
زما د هغوئ سره یو لوظ دے چې کله د هغوئ ګناهونه لرې کړم.“ ٢٨ ډېر بنی
اِسرائیل اوس هم د زیری دشمنان دی. او دا ستاسو دپاره فائده ده. خو دوئ
اوس هم خُدائ پاک ته د خپلو نیکونو اِبراهیم، اِسحاق او یعقوب په وجه ګران
دی. ٢٩ ځکه چې د خُدائ پاک نعمتونه او د هغهٔ بلنه نهٔ بدلېدونکې دی. ٣٠ لکه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځنګه چې مخکښې تاسو غېریهودیان د خُدائ پاک نافرمانه وئ، خو چې کله بنی
اِسرائیلو د هغهٔ نافرمانی وکړه نو د هغوئ په ځائ خُدائ پاک په تاسو رحم وکړو.
٣١ خو اوس هغوئ نافرمانه دی او د خُدائ پاک رحم په تاسو وشو نو چې دوئ
هم ستاسو په وجه د خُدائ پاک په رحم کښې شریک شی. ٣٢ ځکه خُدائ پاک
ټول بنی آدم په نافرمانئ کښې راګېر کړل نو چې هغه په ټولو باندې رحم وکړی.

## خُدائ پاک ته ثنا وئیل

٣٣ واه، د خُدائ پاک دولت، عِلم او پوهه څومره بې‌پایانه ده، او د هغهٔ اِنصاف
څومره د عقل نه بهر دے او د هغهٔ لارې څومره عجیبه دی. ٣٤ ”د مالِک خُدائ
په اراده څوک پوهېدے شی؟ یا څوک هغهٔ ته مشوره ورکولے شی؟ ٣٥ یا چا
هغهٔ ته چرې څهٔ ورکړی دی چې د هغهٔ نه هم څهٔ واخلی؟“ ٣٦ ځکه چې دا ټول
څیزونه د هغهٔ د لاسه ملاویږی او د هغهٔ په وسیله موجود دی او د هغهٔ لوئ دپاره
دی. د هغهٔ ثنا دې تل تر تله وی. آمین.

## په حضرت عیسیٰ مسیح کښې نوے ژوندون

١٢ ١ نو په دې وجه، زما ورونړو او خوېندو، زهٔ د خُدائ پاک د رحمتونو په
وسیله تاسو ته منت کوم چې خپل ځانونه خُدائ پاک ته د داسې ژوندئ قربانئ
دپاره وړاندې کړئ چې هغهٔ ته مقدسه او قبوله وی، او هم دا ستاسو اصلی
عبادت دے. ٢ خپل ځان د دې موجوده دُنیا په شان مهٔ جوړَوئ، بلکې خُدائ
پاک له دا موقع ورکړئ چې ستاسو زاړهٔ خیالونه بدل کړی. بیا به تاسو په دې
پوهه شئ چې د خُدائ پاک رضا څهٔ ده او دا به وپېژنئ چې څهٔ ښهٔ او قبلېدونکی
او کامِل دی. ٣ د هغه فضل په مطابق کوم چې ما ته راکړے شوے دے، زهٔ
په تاسو کښې هر چا ته دا وایم چې تاسو خپل ځان د خپل حیثیت نه اوچت مهٔ
ګڼئ. ځنګه چې خُدائ پاک هر چا ته یوه اندازه ایمان ورکړے دے، هغه دې خپل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځان د هغې په مطابق وګنئ. ﴿۴﴾ لکه څنګه چې زمونږ په بدن کښې ډېر اندامونه
دی او د ټولو اندامونو کار يو شان نۀ دے، ﴿۵﴾ نو مونږ چې ډېر يُو خو په عيسىٰ
مسيح کښې يو بدن يُو، او د يو بل سره تړلی يُو. ﴿۶﴾ مونږ ته د فضل په مطابق
مختلف نعمتونه مِلاو شوی دی. کۀ تاسو ته د پېشګوئۍ نعمت مِلاو شوے وی نو
د ايمان په مطابق پېشګوئۍ کوئ. ﴿۷﴾ کۀ تاسو ته خِدمت درکړے شوے وی نو
خِدمت کوئ، کۀ د تعليم نعمت درکړے شوے وی نو تعليم ورکوئ، ﴿۸﴾ او کۀ د
ډاډګيرنې نعمت يې درکړے وی نو ډاډګيرنه ورکوئ، کۀ د سخاوت نعمت يې
درکړے وی نو سخاوت کوئ او کۀ د مشرۍ نعمت يې درکړے وی نو په محنت
يې کوئ، کۀ د رحم نعمت يې درکړے وی نو ښۀ په خوشحالۍ رحم کوئ.

## د رښتينی مسيحی نښې

﴿۹﴾ مينه دې بې‌ريا وی. د بدۍ نه نفرت کوئ او د نېکۍ سره ځان ونغاړئ. ﴿۱۰﴾
لکه د ورونړو د يو بل سره مينه کوئ او په عزت کولو کښې د يو بل نه مخکښې
کېږئ. ﴿۱۱﴾ په کار کښې سستی مۀ کوئ، او د مالِک په خِدمت کښې روحانی
جوش‌وجذبه قائمه ساتئ. ﴿۱۲﴾ په اُميد کښې خوشحاله، په مصيبت کښې صابر
او په دُعا کښې مشغول اوسئ. ﴿۱۳﴾ د مقدسينو په حاجتونو کښې مدد کوئ او د
مسافرانو د مېلمستيا خيال ساتئ. ﴿۱۴﴾ څوک چې تاسو زوروی د هغوئ خير
غواړئ، برکت يې غواړئ او ښيرې ورته مۀ کوئ. ﴿۱۵﴾ څوک چې خوشحاله وی
ورسره خوشحالی کوئ، څوک چې ژاړی ورسره ژړا کوئ. ﴿۱۶﴾ په خپلو کښې په
يو زړۀ اوسئ، لوئ لوئ خيالونه مۀ کوئ بلکې د بې‌وسو ملګرتيا کوئ او خپل
ځان هوښيار مۀ ګڼئ. ﴿۱۷﴾ د بدۍ په بدله کښې د چا سره بدی مۀ کوئ. هم هغه
کارونه کوئ چې د هر چا په نظر کښې د عزت وی. ﴿۱۸﴾ ترڅو چې درنه کېدے
شی نو د خپل طرف نه د هر چا سره صُلح ساتئ. ﴿۱۹﴾ اے زما عزيزانو، خپل
بدل مۀ اخلئ بلکې خُدائ ته د بدل اخستو موقع ورکړئ، څکه چې دا ليکلے
شوی دی چې، "مالِک خُدائ فرمائی چې بدل اخستل زما کار دے، بدل به زۀ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخلم.“ ۲۰ د دې په ځائ، ”کۀ ستا دشمنان اوږى وى نو هغوئ له روټئ ورکړه
او کۀ هغوئ تږى وى نو هغوئ ته اوبۀ ورکړه، ځکه چې ستا په داسې کولو به يې
په سرونو اور بل شى.“ ۲۱ بدى ته خپل ځان مۀ ښکته کوئ بلکې د نېکئ په
وسيله پرې بدى غالب شئ.

## د سرکارى مشرانو تابعدارى کوئ

۱۳ ۱ هر څوک دې د سرکارى مشرانو تابعدار وى، ځکه چې ټول اختيار د
خُدائ پاک د طرف نه دے او کوم سرکارى مشران چې موجود دى، هغه خُدائ
پاک په خپله مقرر کړى دى. ۲ نو ځکه هر څوک چې د مشرانو تابعدارى نۀ
کوى، هغه د خُدائ پاک د اِنتظام مخالفت کوى او څوک چې مخالفت کوى،
هغوئ به سزا ومومى. ۳ ځکه چې تابعدارو خلقو ته د مشرانو نه هيڅ يره نۀ وى
خو نافرمانو ته وى. کۀ تاسو چرې د مشرانو په وړاندې بغېر د يرې اوسېدل
غواړئ، نو تابعدارى کوئ او هغوئ به ستاسو تعريف کوى، ۴ ځکه چې هغوئ
ستا د ښېګړې دپاره د خُدائ پاک خادِمان دى. خو کۀ چرې تاسو نافرمانى کوئ
نو وېرېږئ، ځکه چې ستاسو سزا د هغوئ په لاس کښې ده او سزا به ضرور
درکړى. هغوئ د خُدائ پاک خادِمان دى او د نافرمانو نه بدله اخلى. ۵ نو
ځکه دا ضرورى ده چې تاسو تابعدار اوسئ، نۀ صرف د سزا نه د بچ کېدو دپاره
بلکې د دې دپاره چې ضمير مو په سکون کښې وى. ۶ هم په دې وجه تاسو
خپل ټيکس ورکوئ ځکه چې دا اختيارمند مشران په خپلو مصروفياتو کښې د
خُدائ پاک خادِمان دى. ۷ د ټولو حق پوره کوئ، چا ته چې ټيکس ورکول
وى، هغوئ ته ټيکس ورکوئ، څوک چې د محصُول حقدار دى هغوئ ته
محصُول ورکوئ، د چا چې احترام کول په کار دى، د هغوئ احترام کوئ، د چا
چې عزت کول په کار دى، د هغوئ عزت کوئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یو بل سره مینه کول

﴿٨﴾ هیڅ قسم قرض په ځان مهٔ پرېږدئ. خو صرف یو کار چې هغه ستاسو دپاره ضروری دے، هغه دا چې د یو بل سره مینه کوئ، نو په دې سره تاسو په شریعت پوره عمل وکړو. ﴿٩﴾ ځکه چې دا حُکمونه دی چې، "زنا مهٔ کوئ، خُون مهٔ کوئ، غلا مهٔ کوئ، حرص مهٔ کوئ." او د دې نه علاوه نور چې څهٔ حُکمونه دی، د هغې ټولو خُلاصه په دې کښې ده چې، "د خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مینه ساتئ." ﴿١٠﴾ په چا کښې چې مینه وی هغه د خپل ګاونډی سره بد نهٔ کوی، نو په دې سبب مینه کول د شریعت پوره کول دی.

## د حضرت عیسیٰ بیا راتلل

﴿١١﴾ د هر څهٔ نه مخکښې دا خبره منل ضروری ده، تاسو ته ښهٔ پته ده چې وخت کم دے، د خوبه رابيدار شئ. ځکه چې زمونږ خلاصون رانزدې شوے دے د کوم وخت نه چې مو ایمان راوړے دے. ﴿١٢﴾ شپه په ختمېدو ده، ورځ په راتلو ده، نو راځئ چې مونږ د تیارې د کارونو نه لاس واخلو او د رڼا په وسله ځان سمبال کړُو. ﴿١٣﴾ راځئ چې د ورځې په رڼا کښې په عزت سره ژوند تېر کړُو، نهٔ چې په ګډا او نشه بازۍ، نهٔ په زناکارۍ، نهٔ په مستۍ، او نهٔ په شهوت پرستۍ، نهٔ په جنګونو او حسد. ﴿١٤﴾ بلکې د دې په ځائ د مالِک عیسیٰ مسیح جامې په تن کړئ او د نفس د خواهشاتو دپاره تدبیرونه مهٔ جوړَوئ.

## په بل چا اِلزام مهٔ لګوه

١٤ ﴿١﴾ په ایمان کښې کمزوری خلق ځان سره شریک کړئ او په مسائیلو کښې ورسره بحث مباحثه مهٔ کوئ. ﴿٢﴾ د مثال په توګه د ځینو خو دا عقیده ده چې د هر څیز خوړل روا دی خو کمزوری ایمان لرونکی تشه سبزی خوری. ﴿٣﴾



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې هر څۀ خوری هغه دې هغه چا ته سپک ونۀ ګوری ځوک چې دا نۀ خوری، او ځوک چې نۀ خوری هغوئ دې په خوراک کوونکی اِلزام نۀ لګوی ځکه چې خُدائ پاک هغوئ قبول کړی دی. ④ تاسو څوک يئ چې د بل چا په نوکرانو اِلزام لګوئ؟ د هغوئ مالِک به په خپله د هغوئ د خِدمت په حقله فيصله وکړی. او د مالِک خُدائ په مدد سره به هغوئ په خپل خِدمت کښې کامياب شی. ⑤ څۀ خلق يوه ورځ د بلې ورځې نه خاص ګڼی او څۀ خلق ټولې ورځې يو شان ګڼی، خو چې تاسو کومه فيصله کوئ په خپل زړۀ کښې په هغې پوره تسلی ساتئ. ⑥ ځوک چې يوه ورځ خاص ګڼی، هغوئ يې د مالِک خُدائ د احترام دپاره ګڼی او دغه شان ځوک چې هر څۀ خوری هغوئ يې د مالِک خُدائ د احترام دپاره خوری، ځکه چې هغوئ پرې د خُدائ پاک شُکر کوی. خو ځوک چې څۀ نۀ خوری هغوئ يې هم د مالِک خُدائ د احترام دپاره نۀ خوری او د خُدائ پاک شُکر پرې کوی. ⑦ ځکه چې زمونږ ژوند او مرګ صرف د خپل ځان دپاره نۀ دے. ⑧ ځکه چې زمونږ ژوند او مرګ د مالِک د لويئ دپاره دے نو کۀ مونږ مړۀ کيږُو او کۀ ژوندی کيږُو نو د مالِک يُو. ⑨ ځکه چې مسيح د هم دې دپاره مړ شو او بيا ژوندے شو، نو چې هغه د مړو او ژوندو دواړو مالِک شی ⑩ خو تاسو ولې په بل ايماندار ورور يا خور اِلزام لګوئ؟ يا تاسو ولې بل ايماندار ورور يا خور ته سپک ګورئ؟ ځکه چې مونږ ټول به د خُدائ پاک د عدالت د تخت په وړاندې ودريږو. ⑪ ځکه چې دا ليکلے شوی دی چې، ”مالِک خُدائ فرمائی چې زما دې په خپل ذات قسم وی چې هره يوه ګوډه به ما ته په سجده شی، او هره ژبه به اِقرار وکړی چې بېشکه زۀ ژوندے خُدائ پاک يم.“ ⑫ نو بيا مونږ هر يو به خُدائ پاک ته خپل حساب ورکوو.

## بل چا ته تيندک مۀ ورکوئ

⑬ نو په کار دے چې مونږ نور په يو بل اِلزام ونۀ لګوو. بلکې دا کلکه اراده وکړو چې کله به هم د بل په لار کښې د تيندک خوړلو ګټ يا خنډ نۀ کيږدو. ⑭



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ په دې پوهه یم او په مالِک عیسیٰ کښې زما دا ایمان دے چې هیڅ څیز هم په خپله حرام نۀ دے، خو چې څوک یې حرام گڼی نو هغۀ ته حرام دے. (۱۵) کۀ چرې ستا ورور یا خور ستا د خوراک په وجه خفه کیږی نو بیا تۀ په مینې سره ژوند نۀ تیروې. نو په خپل خوراک هغوئ مۀ هلاکوه د چا دپاره چې مسیح مړ شو. (۱۶) نو چا ته دا موقع مۀ ورکوئ هغه څۀ چې ستا په نظر کښې جائز وی، او دوئ ورته بد ووائی. (۱۷) ځکه چې د خُدائ پاک بادشاهی په خوراک څښاک نۀ ده بلکې په صداقت، او په صُلح ده او په روحُ القُدس کښې په خوشحالیٔ ده. (۱۸) څوک چې په دې شان د عیسیٰ مسیح خِدمت کوی، هغه په خُدائ پاک گران او د خلقو په مینځ قبول شوے دے. (۱۹) نو بیا دې مونږ پوره کوشش کوُو چې صُلح او سلامتی راولو او د یو بل د روحانی تعمیر او ترقیٔ باعث شو. (۲۰) د خوراک دپاره د خُدائ پاک کار مۀ ورانوئ. هر څیز حقیقت کښې پاک دے، خو دا ستاسو دپاره غلطی ده چې تاسو هغه څۀ خورئ چې د نورو د تیندک سبب جوړیږی. (۲۱) دا به ښۀ وی چې تۀ غوښه ونۀ خورې یا شراب ونۀ څښې او یا نور داسې څۀ کار ونۀ کړې چې ستا د ورونړو او خویندو د تیندک سبب کیږی. (۲۲) نو په څۀ چې ستاسو عقیده وی، هغه د خُدائ پاک او په خپل مینځ کښې وساتئ. بختور دی هغوئ کوم څیزونه چې هغوئ روا گڼی او د هغې په خوړلو سره خپل ځانونه مجرمان نۀ گڼی. (۲۳) خو کۀ څوک شک کوی او هغوئ دا وخوری نو هغوئ مجرمان شول، ځکه چې هغوئ په ایمان سره دا عمل نۀ کوی، نو ځکه کوم عمل چې په ایمان سره نۀ وی نو هغه گناه ده.

## ځان نه بلکې نور خلق خوشحالوئ

**۱۵** (۱) غرض دا چې مونږ چې په ایمان کښې مضبوط یُو، په کار دے چې د کمزورو کمزورتیا برداشت کړو، نه چې په خپله خوشحالیٔ کښې مشغول یُو. (۲) مونږ کښې دې هر یو خپل گاونډی خوشحاله ساتی د دې مقصد دپاره چې د هغۀ ایمان مضبوط شی. (۳) ځکه چې مسیح هم خپل ځان خوشحاله کړے نۀ وو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بلکې دا لیکلے شوی دی چې، ”څوک چې ستاسو بې‌عزتی کوی د هغوئ بې‌عزتی په ما راغله.“ ۴ څکه چې کومې خبرې چې وړاندې په صحیفو کښې لیکلے شوی دی، هغه زمونږ د هدایت دپاره لیکل شوی دی، نو چې د صبر او د کِتابِ مقدس د تسلی د خبرو نه مونږ څۀ اُمید ولرو. ۵ او خُدائ پاک چې د صبر او د تسلی سرچینه دے، هغه دې تاسو له دا توفیق درکړی چې د عیسیٰ مسیح په مطابق په خپلو کښې سره یو زړۀ شئ او یو ځائ ژوند وکړئ، ۶ نو چې تاسو په یو زړۀ او یو آواز سره د خُدائ پاک، زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح د پلار لوئی بیان کړئ.

## د یهودیانو او د غېریهودیانو دپاره زیرے

۷ نو بیا څنګه چې مسیح د خُدائ پاک د جلال دپاره ستاسو هرکلے وکړو، هم دغسې تاسو هم د یو بل هرکلے کوئ. ۸ څکه زۀ تاسو ته دا وایم چې مسیح د خُدائ پاک د رښتینوالی د ثابتولو دپاره د یهودیانو خادِم شو، د دې دپاره چې هغه وعدې پوره کړی کومې چې زمونږ د پلار نیکونو سره شوی دی ۹ او د دې دپاره چې غېریهودیان هم د رحم په سبب د خُدائ پاک ثنا ووائی لکه څنګه چې لیکلی دی چې، ”هم په دې وجه به زۀ په غېریهودیانو کښې ستا اِقرار کومه او ستا د نوم سرودونه به وایم.“ ۱۰ او هغه بیا فرمائی چې، ”اے غېریهودیانو. د هغۀ د اُمت سره خوشحالی وکړئ.“ ۱۱ او بیا فرمائی، ”اے ټولو غېریهودیانو، د مالِک خُدائ ثنا ووایئ، او ټول اُمتونه دې د هغۀ ثناء صِفت بیان کړی.“ ۱۲ او بیا یشعیاه وائی چې، ”د یَسی د جرړې نه راټوکېدلې څانګه به راځی، یعنې هغه سړے چې په غېریهودیانو به حکومت کولو له راوچت شی، په هغۀ کښې به غیر یهودیان اُمید ساتی.“ ۱۳ خُدائ پاک چې د اُمید سرچینه دے، هغه دې تاسو د خپل ایمان په وسیله د هرې خوشحالی او سلامتی نه ډک کړی، نو چې د روحُ القُدس په قدرت سره ستاسو اُمید هم په مخه زیاتیږی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په زړهٔ ورتيا سره د پولوس رسول د ليکلو وجه

۱۴ اے زما ورونړو او خوېندو، زما په خپله هم ستاسو په حقله دا پوخ يقين دے
چې تاسو په خپله د نيکئ نه ډک او په عِلم پوره يئ او يو بل ته د هدايت کولو هم
قابل يئ. ۱۵ نو ما هم په بعضې نقطو کښې زيات په زړهٔ ورتيا سره د دې
يادګيرنې په طور دا تاسو ته وليکل د هغه فضل په وجه چې خُدائ پاک ما ته
راکړے دے ۱۶ چې زهٔ غېريهوديانو ته د عيسىٰ مسيح خادِم شم او د خُدائ
پاک د کلام لکه د اِمام په شان خِدمت وکړم، او چې د غېريهوديانو نذرانې خُدائ
ته قبولې شى او د روحُ القُدس په وسيله مقدسې شى. ۱۷ نو ځکه زهٔ په عيسىٰ
مسيح کښې د خُدائ پاک دپاره په خپل خِدمت فخر کوم. ۱۸ ځکه چې زهٔ د
هغه خبرو کولو جرأت نهٔ شم کولے بغېر د هغه نه چې مسيح زما په وسيله پوره
کړې دى، د دې دپاره چې زهٔ غېريهوديان په خپل قول او عمل باندې د خُدائ
پاک تابع کړم. ۱۹ د نښو او معجزو په قدرت او د خُدائ پاک د روحُ القُدس په
طاقت سره هغوئ مطمئن شُو. نو دغه شان ما د يروشلم نه تر اِلريکوم پورې د
مسيح زيرے پوره پوره خور کړو. ۲۰ او هم دغه زما آرزو ده چې هلته دا زيرے
ورسوم چرته چې د مسيح نوم نهٔ دے اورېدلے شوے، نو چې زهٔ د بل چا په
بنياد آبادى ونهٔ کړم. ۲۱ بلکې څنګه چې ليکلے شوى دى چې، ”چا ته چې د
هغهٔ په حقله څه نهٔ دى وئيلے شوى، هغوئ به ووينى، او چا چې د هغهٔ په حقله
نهٔ دى اورېدلى، هغوئ به پوهه شى.“

## د پولوس رسول روم ته د تلو اراده

۲۲ هم دغه وجه ده چې زهٔ تاسو ته د بار بار راتلو نه ايسار وم. ۲۳ خو اوس په
هغه مُلکونو کښې زما نور حاجت نشته او زهٔ د ډېرو کالونو راسې تاسو له د راتلو
ليواله وم. ۲۴ کله چې زهٔ اسپانيه ته ځم نو په لاره به تاسو ته هم درځم ځکه چې
زما دا اُميد دے چې په خپل دې سفر کښې به تاسو سره ملاقات کوم، او چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو سره په څۀ موده تېرولو مې زړۀ موړ شی نو بيا به مې تاسو هغه طرف ته
رُخصت کړئ. ۲۵ خو اوس زۀ د مقدسينو د امداد دپاره يروشلم ته ځم. ۲۶
ځکه چې د مِکدونيه او د اخيه خلقو د زړۀ د اخلاصه د يروشلم د غريبو مقدسينو
دپاره چنده کړې ده. ۲۷ هغوئ دا چنده په خوشحالئ سره کړې ده ځکه چې
هغوئ خپل ځان د دوئ قرضدار گڼلو. ځکه چې غېريهوديانو ته د زيری روحانی
برکتونه د يروشلم د ايماندارانو نه مِلاو شوی وُو نو هغوئ دا ضروری وگڼله چې
په مالی توگه د هغوئ مدد وکړی. ۲۸ نو کله چې زۀ دا خِدمت پوره کړم او هغه
پېسې هغوئ ته حواله کړم څۀ چې راغونډې شوې دی نو بيا به زۀ ستاسو په لار
اسپانيه ته ځم. ۲۹ او ما ته پته ده چې کله زۀ تاسو ته درځم نو د عيسیٰ مسيح
پوره برکت به دروړم. ۳۰ او اے وروڼو او خوېندو، زۀ د عيسیٰ مسيح په وسيله
څوک چې زمونږ مالِک دے او د روح د مينې په وسيله په تاسو زور راوړم چې
زما دپاره د خُدائ پاک نه په دُعا غوښتو کښې ما سره يو ځائ شئ، ۳۱ چې زۀ
د يهوديه د بې‌ايمانانو نه بچ شم او چې زما هغه امداد چې د يروشلم د ايماندارانو
دپاره دے قبول کړی. ۳۲ نو د دې نه پس به بيا د خُدائ پاک په مرضیٰ سره او
بنۀ په خوشحالئ تاسو ته درشم او تاسو سره به دمه وکړم. ۳۳ خُدائ پاک چې
د سلامتئ سر چينه دے، هغه دې تاسو ټولو سره وی. آمين.

## د پولوس رسول شخصی سلام

۱۶ ۱ زۀ تاسو ته د فيبے چې زمونږ خور او د کِنخريه د جماعت
خِدمتگاره ده، سفارش کوم، ۲ تاسو د هغې د مالِک په يووالی کښې داسې
هرکلے وکړئ لکه څنگه عزت چې مقدسينو ته په کار وی. څۀ چې د هغې
ضرورت وی ورسره مدد کوئ، ځکه چې هغې ما سره سره د نورو ډېرو خلقو هم
مدد کړے دے. ۳ پرسکله او اکوله ته مې سلام وايئ، هغوئ د عيسیٰ مسيح په
خِدمت کښې زما ملگری وُو. ۴ هغوئ زما دپاره خپل ځانونه په خطره کښې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم واچول او نهٔ صرف زهٔ بلکې د غېریهودیانو ټول جماعتونه د هغوئ شُکر
ګزاری کوی. ۵ هغه جماعت ته مې هم سلام وایئ چې د هغوئ په کور کښې
راټولیږی. ګران اِپینتوس ته هم زما سلام وایئ چې په آسیه کښې د مسیح اول
ایماندار دے. ۶ مریم ته مې سلام کوئ، چا چې ستاسو دپاره ډېر محنت کړے
دے. ۷ اندرونیکوس او یونیاس ته مې سلام وایئ، هغوئ زما عزیزان دی او ما
سره په قیدخانه کښې وُو. هغوئ په رسولانو کښې مشهور دی او زما نه مخکښې
یې په مسیح ایمان راوړے وو. ۸ امپلیاطوس ته مې سلام وایئ چې د مالِک د
خاطره په ما ګران دے. ۹ اوربانوس ته مې سلام وایئ چې د مسیح په خِدمت
کښې زمونږ ملګرے دے، او په ما ګران ستاخوس ته هم سلام وایئ. ۱۰ اپلیس
ته مې سلام وایئ چې په مسیح کښې آزمائیلے شوے دے او د اریستوبولوس د
کور خلقو ته مې سلام وایئ. ۱۱ زما عزیز هیرودیون ته سلام ووایئ او د نرکس
د کور هغه خلقو ته هم سلام ووایئ چې د مالِک سره یووالے لری. ۱۲ ترفینه او
ترفوسه ته سلام وایئ چې د مالِک په خِدمت کښې زما ملګری دی او هم ګرانې
پرِسس ته سلام وایئ چا چې د مالِک په کار کښې ډېره خواری کړې ده. ۱۳
روفوس ته سلام وایئ چې د مالِک غوره شوے دے او د هغهٔ مور ته چې زهٔ یې
هم مور ګڼم، سلام وایئ. ۱۴ اَسنکریتوس، فلیګون، هِرمیس، پترویاس، هِرماس
او هغو ورونړو او خوېندو ته چې د هغوئ ملګری دی، سلام وایئ. ۱۵
فیلولوګوس، یولیه، نیریوس او د هغهٔ خور او اُلمپاس او ټولو مقدسینو ته چې د
هغوئ سره دی سلام وایئ. ۱۶ په خپلو کښې په پاکې مینې سره یو بل ته سلام
ووایئ، د مسیح ټول جماعتونه درته سلام وائی.

## آخری هدایات

۱۷ نو اوس اے ورونړو او خوېندو، زهٔ تاسو ته دا منت کوم چې کوم خلق د هغه
تعلیم خلاف چې تاسو حاصل کړے دے، د بې‌اتفاقۍ او تیندک خوړلو سبب
کیږی، په هغوئ نظر ساتئ او ځان ترې ساتئ. ۱۸ ځکه چې داسې خلق زمونږ د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک مسیح خِدمت نهٔ کوی بلکې د خپل مفاد خِدمت کوی او په نرمو او خوږو
خبرو ساده خلق دوکه کوی. ۱۹ ځکه چې ستاسو فرمانبرداری په ټولو خلقو
کښې مشهوره ده، نو ځکه زهٔ په تاسو خوشحاله يم او زهٔ غواړم چې تاسو په نېکئ
کښې هوښياران شئ او په بدئ کښې بېګناه شئ. ۲۰ خُدائ پاک چې د سلامتئ
سرچينه دے، هغه به ډېر زر شېطان ستاسو د پښو لاندې چخنې کړی. زمونږ د
مالِک عيسىٰ مسيح فضل دې تاسو سره وی. ۲۱ زما د خِدمت ملګرے
تيموتيوس او هم دغسې زما عزيزان لوکيوس، ياسون او سوسيپطرس تاسو ته
سلام وائی. ۲۲ زهٔ ترتيوس د دې خط ليکونکے تاسو ته هم په مالِک کښې سلام
وايم. ۲۳ ګايوس چې زما او د ټول جماعت کوربه دے، تاسو ته سلام وائی،
اِراستوس د ښار خزانچی او زمونږ ورور کوارتوس تاسو ته سلام وائی. ۲۴
زمونږ د مالِک عيسىٰ مسيح فضل دې تاسو ټولو سره وی. آمين.

## آخری دُعا

۲۵ اوس دې ټوله لوئی خُدائ پاک ته وی. څوک چې تاسو په ايمان کښې
مضبوطولے شی، زما زيرے د عيسىٰ مسيح په حقله چې تاسو ته بيان کوم د
هغه کشف په مطابق کوم راز چې د ډېرې مودې نه پټ ساتلے شوے وو، ۲۶
خو اوس ښرګند کړے شو، او ازلی خُدائ پاک د نبيانو د کلام په وسيله هغه
ښکاره کړے دے د دې دپاره چې د هغهٔ د حُکم په مطابق ټول غېريهوديان د
ايمان راوړلو سره د هغهٔ تابع شی. ۲۷ د هغه واحد خُدائ پاک چې په هر څهٔ
پوهيږی، جلال دې د عيسىٰ مسيح په وسيله تل تر تله وی. آمين.



Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.